# د ماشومانو تربیت

لیکوال: عبدالرحیم درانی



# لړلیک

لړلیک ........................................................................................ ۲
د ماشوم د ښوونې او تربیت وخت ........................................................ ٤
د زیږیدو له لومړۍ ورځې د شخصیت جوړیدل ........................................ ٥
د ماشوم د تربیت وخت ........................................................................ ۷
د ژوندانه لومړي اووه کلونه.................................................................. ۸
خورا مهم پړاو..................................................................................... ۸
په لومړنیو اوو کلونو کې د ماشوم د پاچاهۍ مثبتې او ارزښتناکې اغېزې ................................................................................................ ۱۱
د ژوندانه درېیم اووه کلونه................................................................... ۱۵
د روزنې مسولیت ................................................................................ ۱۷
له ماشومانو سره عادلانه چلند.............................................................. ۱۸
د پیغمبرانو په سیرت کې د ماشومانو تر منځ عدل..................................... ۱۸
په ماشومانو کې د مینې په ویشلو کې باید له ډېرې ځیرتیا کار واخستل شي............................................................................................ ۱۸
په ماشومانو کې عادلانه قضاوت او د بېې ناوړه پایلې عدالت.................... ۲۰
د نامه ټاکنه ........................................................................................ ۲۲
د اولاد تربیت او د دوې پړاوونه............................................................. ۲۳
د ماشوم لومړني ښوونکي .................................................................... ۲٤
ماشوم دروغ له کوم ځایه زده کوي.......................................................... ۲٥
د مور او پلار دروغو ته د ماشومانو پاملرنه ............................................. ۲٦
تر زېږیدو وروسته لومړني اداب.............................................................. ۲٦
د اسلام له نظره د ماشومانو خوراک او څښاک:......................................... ۲۸
د شېدو او پِیو ورکول ........................................................................... ۲۸
شېدې ورکول، د اسلام له نظره.............................................................. ۲۸
د ماشومانو وهل، ټکول او رټل .............................................................. ۲۹

Download From; Aghalibrary.com

د بدني سزا او وهلو زيانونه ........................................................... ۲۹
د ادابو او سزا مهم ټکي.................................................................. ۳۱
د ماشوم ژاړا ته د رسول الله (ص) مبارک پاملرنه .......................................... ۳۳
پر ماشومانو د سختۍ او وهلو پايلې..................................................... ۳۳
د لور او زوي تر منځ توپير .............................................................. ۳۵
د ډالۍ په وېشلو کې د لوبو مخکې کول ................................................... ۳٦
بهلول څه وايي؟............................................................................. ۳٦
خدای پاک څه خوښوي؟ ............................................................... ۳۸

Download From; Aghalibrary.com

## د ماشوم د ښوونې او تربيت وخت

رنځ پوهان او اروا پوهان وايي، چې د ماشومانو روزنه د هغوی د زوکړې له وخته-ان په خيټه کې د ماشوم له غوټه کيدو وروسته- پيليږي.اسلام هم هم دا خبره تائيدوي او کله چې ماشوم د مور په خيټه کې وی، هغه وخت يې مور ته له حرامو او ناوړه خوراکونو او ان غلطو کړو څخه د ډډه کولو سپارښته کړی ده.په ډيرو حديثونو کې راغلي دي، چې کله ماشوم د مور په خيټه کې وي، نو د پلانکيو پلانکيو خوړو او ميوو خوړل په بچيو دا ډول اغيز غورځوي، د بيلکې په توګه د منهو خوړل او شيدو خوړل ماشوم ښکلی کوي.

هم دا ډول که مور ځينې خواړه وخوري، نو په بچي ځينې مثبتې يا منفي اغيزې اچوي. دا خبره نوي طب هم تائيد کړې ده. په هره توګه، په دې اړه بشپړ کتابونه ليکل شوی، خو زما مطلب دا دی، چې کله ماشوم د مور په خيټه کې وي، نو مور بايد د خوراک څښاک، ناستې پاستې او روحي حالاتو په چاره کې له ډيرې خيرتيا کار واخلي او داسې کارونه او خوراکونو ته نږدې نه شي، چې د راتلونکي بچي په زيان وي.

تاسو به خبر وئ، چې په ايران کې د علامه طباطبايي په نامه يو پنځه کلن ماشوم دے، چې د پنځو کالونو په عمر کې يې په څو ډوله او څو قراتونو سره قران مجيد زده کړې او خپله ژباړه او تفسير هم ورځي. د دې ماشوم پلار وايي، چې دې لا د مور په خيټه کې و، چې ما به ورته د قران مجيد بيلا بيل سورتونه تلاوتول. مابنام به يې له مور سره يو ځاې کېښناستم او يسين سوره يا نوری سورې به مې تلاوتولې. هم دا ډول تر زيږدو ورسته له هماغو لومړيو ورځو مې په کور کې د قاری عبدالباسط او داسې نورو قاريانو تلاوتونه غږول او مور ته مې يې هم سپارښتنه کړې وه، چې ده ته له پيو ورکولو مخکې تل په اوداسه کې وي او ماشوم ته په اوداسه سره پی، ورکړي. ځينې دا سببونه او لاملونه وو، چې زما زوی په پېنځه کلنۍ کې څو ډوله د قران مجيد تلاوت حفظ، قرات او تفسير زده کړ او ان موضوعي تفسير هم ورځي. د محمد حسين طباطبايي پلار اوس يوا مدرسه پرانستې او په هغې کې په لسګنو تر پينځو کلنو کم قاريان او حافظان زده کړې کوي. دې وايي: زه يو داسې پروګرام لرم، چې کله ماشوم د مور په خيټه کې غوټه شي او له هغه وخته مور بايد په دغه پروګرام عمل وکړي او ان د بچي تر زيږدو مخکې هم بايد دغه پروګرام عملي او اجرا کړي. د ده ادعا ده، چې د مور په خيټه کې ماشوم حافظ يا قاري کوي.

په هر حال، د ده دا ادعا ردولی هم نه شو، ځکه چې پر اسلامي سپارښتنو سربيره طب او رنځ پوهنې او نويو څيړنو هم دا خبره څرګنده کړې، چې ماشومان د مور په خيټه کې هر څه اورې او له بيلا بيلو حالاتو اغېز منيږي او متاثر کيږي..

Download From; Aghalibrary.com

يوه ډاکټره، چې غواړي اولاد يې هم ډاکټر شي بايد په همغه مهال، چې ماشوم يې په نس کې وي، ډاکټري او د رنځ پوهنې رجحانات او ګروهنې ولري. طبي کتابونه ولولي او ټوله توجه دغو څيزونو ته ورکړي.
هم دا ډول که يوه ښځه غواړي، چې بچی يې ښه موسيقي پوه شي، نو بايد د دې کار لپاره له هماغه وخته، چې بچي يې په خېټه کې وي، لاس په کار شي او ښې خوندورې موسيقۍ او سازونه دې اوري.
غرض دا چې کله بچی په خېټه کې وي، نو د مور ټول حالات، ناسته پاسته، خوراک څښاک، کتل اوريدل، ګرځيدل، روحي حالات، خوښي خپګان او د ژوندانه ټول پړاوونه پر بچي هم اغيز اچوي او هغه ته ليږدول کېږي او که څوک غواړي، چې ښه او رغنده بچی ټولنې ته وړاندې کړي، نو بايد د دغو څيزونو خيال دې وساتي. البته په دغو پړاوونو کې پلار هم ډيره اساسه دنده لري او پکاره ده،چې په ټولو پړاوونو کې د مور د هوساينې، کرارۍ او ارام خيال وساتي او په کومو کارونو، چې هغه حساسه ده او خپه کېږي پرې، بايد ويې نه کړي.
غرض دا چې د ماشوم د ښوونې او روزنې پړاو د مور له خېټې او ورپسې تر زيږيدو ورسته سمدستي پيلېږي او شورو کيږي..

## د زيږيدو له لومړۍ ورځې د شخصيت جوړيدل

په دويم نړيوال جنګ کې کله چې جرمنيانو فرانسه ونيوله، يوه فرانسوۍ ښځه هم په دغو بريدونو کې ژوبله شوه او د ماغزو جراحۍ يا اپريشن ته اړمنه شوه. د جراحۍ په وخت کله چې د رنځ پوه چاقو د هغې د مازغو په يو رګ ولګېد، ښځې په بې هوشی کې جرمنۍ سندره پيل کړه او کله چې جراح چاقو ليرې کړ، ښځې سندره هم بند کړه. رنځ پوه يو ځل بيا چاقو په دغه رګ کېښود او ښځې بيا سندره پيل کړه دې کار طبيبان او رنځ پوهان ډير اريان کړل او چې کله ښځه په هوش کې راغله، نو د ډاکټرانو حيراني لاپسې زياته شوه، ځکه ښځې وويل، چې ماته يو ټکی جرمني هم نه راځي.
د دې هېښنده پېښې د څېړنې لپاره يو لړ څېړندويان، اروا پوهان او رنځ پوهان سره راغونډ شول او دا چاره يې وڅېړله تر ډيرو څېړنو او پلټنو وروسته څرګنده شوه، چې دا ښځه هغه وخت، چې له ډيره وړه وه، جرمنيانو د دې پر کور بريد کړی و او جرمنيانو چې د يرغل په وخت کومې سندرې ويلې، هغه د دې په ذهن کې پاتې شوې وې او تر اوسه ژوندۍ او يادې وې.
له اسلامي روايتونو هم د دې کيسې تصديق کولای شو، ځکه چې په حديثونو کې راغلي دي، کله چې ماشوم وزيږي، نو په غوږونو کې يې بانګ او اقامت وکړئ. هم دا رنګه د دين مخکيان

Download From; Aghalibrary.com

سپارښتنه کوي، چې ښځه او مېړه بايد د ماشوم په مخ کې له يو بل سره مينه او جماع ونه کړي، ځکه چې کېداې شي دا چاره يې د بچي پر ذهن اغيز اچوي او اولاد يې زنا کار شي.
د اسلام دغه سپارښتنې او اوامرو ته پاملرنه او ځيرتيا د پيدا کېدو له هماغو لومړيو ورځو د ماشوم د ذهن د اغيزمنتيا ښوونه کوي.

Download From; Aghalibrary.com

# د ماشوم د تربیت وخت

وايي، چې پخوا يوې مور خپل ماشوم يو پوهته وروست او ورځنې يې وپوښتل، چې ای د حکمت او پوهې څښتنه ماته ووايه، چې له کوم عمره د خپل بچي ښوونه او تربيت شورو او پيل کړم؟

پوهه، ماشوم ته ځير شو پوه شو، چې ماشوم د يو کال وي، نو ورته يې وويل: مېرمنې! ته ټيک دولس مياشتې ناوخته راغلې يې؛

له دې کيسې څرګندېږي، چې د ماشوم روزنه او تربيت بايد له هماغه لومړۍ ورځې پيل شي.

هم دا راز وايي، چې يوه ورځ نامتو اديب، اندرې مالرو؛ خلکو ته  د ښوونې او روزنې په اړه وينا کوله. ډيرې ښکلې او په زړه پورې خبرې يې وکړې او د خلکو خوښې شوې. کله  يې چې وينا پای ته ورسيده، نو يوه ښځه له اوريدونکيو راپاڅيده او وې ويل؛ مالرو صيب؛ زه د خپل بچي روزنه له څه وخته پيل کړم،

مالرو ورنه په ادب وپوښتل، چې ستا بچې کله پيدا کېږي؟

ښځې په حيرانتيا ځواب ورکړ، کله به پيدا کيږي؟ عجيبه خبرې کوې، زما بچی خو اوس د څلورو کالو دی. مالرو چې دا خبره واوريده، نو په چغې يې وويل؛ څلور کاله؟! اوه اوه څومره د خواشينۍ خبره ده، ای خورې تا د خپل بچي ډير غوره څلور کالونه ضايع کړي دي او زياتی دې ورسره کړی دی.

وايي، چې يوه ورځ يو ماشوم له پلار سره په چکر وتلی و دواړه يو باغ ته ورسيدل، ماشوم له ونو سره لوبې کولې، په ونو کې يې يوه ونه وليده، چې له ځمکې کږه راوتلې وه. ماشوم له پلاره وغوښتل، چې دا ونه نيغه کړي.

پلار يې وويل، زويه دا ونه اوس لويه شوې ده او نه نيغېږي. پلار يې چې هوښيار و، ور زياته يې کړه؛ بچيه انسان هم د دې ونې په څير دی، که له کوچنتيوبه او له زېږېدو وروسته د هغه سمه ښوونه او روزنه وشي او په نېغې لارې ولګول شي، نو سم او روغ لويېږي او نېکمرغۍ ته رسېږي، خو که له کوچنتيا به دا نيالګی کوږ وکړل شي او له اخلاقي رذايلو او سپکو خويونو سره لوی شي. نو بيا يې هيڅ ښوونکی نه شي نيغولی.

د امام علی عليه السلام ځينې شعرونه، چې د روزنې په اړه دي لولو،

حرض بنيک علی الاراب فی الصغر
کيما تقربهم عنياک فی الکبر
و انما مثل الاراب تجمعها
فی عنفواک الحسبا کانقش فی البحر

ژباړه: خپلو اولادونو ته په کوچنيتابه ماشوموالي کې د روغو او خوښو اخلاقو لار ښووونه وکړئ، چې سبا به ښه غوره او درانه ځوانان يا پيغلې شي او ستاسو د سترګو تور او د وياړ لامل شي، ځکه چې د ماشومانو ذهنونو او فکرونو ته د نيکو ادابو، دودونو او اخلاقو تزريقول او ور زده کول د هغه نقش او انځور په څير دي، لکه چا چې په کاڼي کاږلی وي او د وخت له تيريدو سره نه ختميږي او د بارانونو، ورښتونو او داسې نورو بدلونونو راتګ يې له منځه نه شي وړلای.

# د ژوندانه لومړي اووه کلونه

د اسلام پيغمبر(ص) په يو بل حديث کې د همدغو دريو پړاوونو په بنياد د ماشومانو، هلکانو او زلميانو په وړاندې د مور وپلار د دندو او فرايضو او د روزنې اره او کلي اصول په ښه توګه په ګوته کړي دي او فرمايي:

؛ ژباړه: پرېږدئ، چې اولادونه مو اووه کاله لوبې وکړي، اووه کاله بيا تاديب او وروزل شي او اووه کاله نو (له۱٤ څخه تر ۲۱ کلنۍ پورې) ستاسې سلاکار او وزير وي.

د ژوندانه په لومړيو اوو کلونو کې د ماشوم ذهن نيمګړے، پوهه کمه او بدن ناتوانه او کمزورے وي، نو مور و پلار ته ښايي، چې په ډېرې مهربانۍ، مينې او طريقې سره له هغو سره چلند وکړي د هغه ډېرې غوښتنې پوره دِ پوره کړي او اړتياوو ته يې مثبت ځواب ووايي. ماشومان د عمر په لومړيو اوو کلونو کې باچايان دي، نو مور او پلار يې بايد پرېږدي، چې ازاد وي حُکم وکړي، لوبې وکړي او باچاهي وکړي. هغه بايد محدود او مقيد نه کړي او کومه ښووونه او روزنه ورباندې ونه تپي. په دغو اوو کلونو کې ماشوم په غير مستقيم او لاشعوري توګه له خپل چاپيريال يانې کورنۍ، ټولنې، خپلوانو او نورو ماشومانو اغيزه اخلي او روزل کېږي.

## خورا مهم پړاو

د انسان د ژوندانه لومړني اووه کلونه، چې د عمر ډير مهم او اغيزمن پړاو ګڼل کېږي، د انسان د شخصيت د جوړيدو کلونه دي.

په خوا به دا ګڼل کېدل، چې د کوچنيتابه کلونه يوازې د بدني روزنې او پاملرنې کلونه دي او دا عمر د ذهني احساساتي او ټولنيزې پالنې او سوونې عمر نه ګڼل کېده پخوانيو خلکو ګومان کاوه، چې که يو ماشوم په لومړيو کلونو کې د خوړو، جامو، روغتيا، استوګنې او ښوونې له اړخه ستونزې ونه لري او پراختيا ولري، بايد په بدني ودې او تعليمي وړتياوو کې تر نورو مخکې او تکړه وي، خو نن سبا د تجربې دا څرګنده کړې ده، چې ماشوم د ودې او لوبيدا په ټولو پړاوونو کې نه يوازې بشپړې بدني پاملرنې ته اړتيا لري، بلکې په احساسي، ادراکي، خيالي او ذهني وسونو او هم دا راز په بدني او د خبرو په وړتياوو او پوهې کې هم مينې او لارښوونې ته پوره پوره اړتيا لري.

هېره دې نه وي، چې هغه ګډوډۍ او ستونزې چې د ځوانانو او هلکانو په چلند او له بالغېدو وروسته د هغو په کړو کې رابرسېره کېږي، په کوچنیتابه کې د هغو احساساتو مینو او غوښتنو ته د سم پام د نه کولو له امله دي او د خوانۍ او بالغېدو ډېرې ګډوډۍ او چلنې ستونزې له دې امله پیدا کېږي، چې د کوچنیتابه په پړاو کې د دغه ډول ماشومانو د فکري ودې او ښوونې و تربیت لپاره مناسب کار نه دے شوے.

کله چې مونږ د ځوانانو او ان د لویو کسانو د ټولنیزو ستونزو، ګډوډیو او د هغوې په کړو او چلند کې د رامنځته شویو کږکېچونو او خرابیو سمه شننه او پلټنه وکړو، نو دا خبره د لمر په څېر روښانېږي، چې د ماشوم د ژوندانه په لومړیو کلونو کې د مور و پلار او پالونکیو له خوا د مینې او محبت کمښت او د سمو روزنیزو لارو نشتوالے د ماشومانو په راتلونکي ژوندانه کې د ګډوډیو او له ټولنې او حالاتو سره د هغوې د نه سمون والي سبب کېږي او په دا ډول ځوانانو او هلکانو پا پېغلو کې د اخلاقي او ټولنیزو بې لاریو او د ټولنې له اصولو او قانونو څخه د سرغړاوي له امل ګرځي.

د یو ماشوم د ژوندانه د لومړیو اوو کلونو د نفسیاتي او روحي روغتیا تر ټولو مهمه مسئله اوار په ودې، لوبیدا او په تجربې کې د هغه ازاد پرېښودل دي تاسو ته څرګنده ده، چې په دې عمر کې د ماشوم ذهن او فکر لا پوره وده نه وي کړې او د هر څیز د عقلي شننې او تجربې چمتووالے نه لري، له بل پلوه د هغه پنځګوني حواس د هغه په کړو وړو، غبر ګونونو او کارونو کې ډېر مهم رول لري، نو ماشوم د همدغو حواسو له لارې په حسي او حرکتي کارونو لاس پورې کوي، ماشوم په دې عمر کې غواړي، چې لوبې وکړي، منډې ووهي، حرکت وکړي، ښکته پورته شي او پخپله په خپل ژوندانه کې نوي څیزونه تجربه او معلومه کړي، نو د خپل چاپېریال له هر څیز سره مینه او دلچسپي لري او غواړي هغوې ته لاس وروړي او تجربه او معلوم یې کړي.

د پېنځو حواسو (لیدل، اورېدل، ویل، بُویَوَل او لمس کول) په کارولو کې ازادي د ماشوم د ودې، غوړېدو، د هغه د حسي خوځښتونو د نوښتونو او پرمختګ لامل کېږي، نو په دې عمر کې باید داسې کار ونه کړے شي، چې د ماشوم باچاهۍ او د حکم ورکولو احساس ته زیان ورسي.

کله چې یو ماشوم په ټول پام او ځیرتیا سره په لوبو او کار لګیا وي، نو هغه ته امر او نهي کول نه دي پکار، اډرونه او امرونه نه دي ورکول پکار او هغه له خپل کار او فعالیته نه دي غړول پکار.

اوس مهال هغه مور و پلار د خپلو اولادونو په ښوونه او روزنه کې بریالي دي، چې د خپلو اولادونو ښوونې او روزنې ته وخت ورکوي او هغه هېواد پر مختګ کولاې شي، چې د خپلو ماشومانو د ودې، لوبو او فعایتونو لپاره مناسب حالات، اړتیاوې او امکانات پوره کولې شي.

که ماشوم د خپلې ودې او لوبيدو لپاره فضا او چاپېريال مناسب او سم ومومي او د خپل وجود انرژي او خوراک په سمې او مناسبې فضا کې ولګوي، نو ډېر زر خپل روحي او اخلاقي انډول پيدا کوي.
ماشوم بايد لومړي اووه کلونه په بشپړې باچاهۍ، ازادۍ او د امکاناتو په لرلو سره تير کړي او که په کوم دليل ده هغه باچاهۍ او واکمنۍ ته ګوزار ورکړل شي، روحي او نفسياتي انډول يې خرابيږي.
په ښوونځيو کې د ماشومانو د ډېرو نفسياتي او روايي ستونزو لامل په کورنۍ کې د ودې او روزنې د سمو حالاتو او فضا نشتوالے دے.
يو ماشوم چې پېدا کېږي، بايد د مور د مينې او محبت د احساس تر څنګ دا کراري او ارامښت هم ولري، چې په وخت ويده کړے شي، په وخت وېښ کړے شي، شودې ورکړل شي، جامې يې بدلې شي او ژاړا ته يې مناسب ځواب وويل شي.
که د ژوندانه په لومړيو اوو کلونو کې د ماشوم په وړاندې د مور او پلار غبرګونونه مناسب او په ځاے وي، نو ماشوم هم په راتلونکي ژوندانه کې او په خپل شخصيت کې روحي او اخلاقي انډول او غړملتيا پيدا کوي او که مور و پلار او روزنکي يې اړتياوو او غوښتنو ته مناسب ځواب او غبرګون و نه ښيي، نو دا چاره د ماشوم په راتلونکي ژوندانه کې د هغه په شخصيت کې د ناانډولۍ او کمزورۍ لامل کېږي.
مانا دا چې ماشوم بايد په دې عمر کې بېخي ازاد پرېښودل شي، د خواوشا کسانو له مينې پوره پوره خړوب او موړ شي. په دې عمرکې د ماشوم روحيه ډېره نازکه، حساسه او نرمه وي او بايد هيڅکله ونه ځورول شي.
ځينې مور و پلار دا ګومان کوي، چې ماشوم بايد په دې عمر کې د هغوې ټول ؛وکړه؛ ؛مه کړه؛ او امرونه واوري او د مور و پلار بشپړ مطيع او منونکي وي. حال دا چې مور و پلار بايد وپوهېږي، چې ماشوم په دې عمر کې ستاسو خبرې نه شي اورېدې يا غلې نه شي کېناستلاې، چې هېڅ حرکت او خوځښت ونه لري او له خواوشا ځيزونو او خلکو سره کار ونه لري، بلکې د اسلام او نويو علمي ځيزونو له مخې دا مهال د ماشوم د ازادۍ باچاهۍ د هراړخيزو غوښتنو، خوځښت، لوبو، بوختيا، ازادو فعاليتونو او بالاخره د هغۀ د ودې، ازادۍ او غوړېدا مهال دے.
په دې عمر کې پکار ده، چې د اولاد له طبيعي فعاليتونو او لوبو مخنيوې ونه شي او د هغه د غوښتنو او ګروهنو مخه ونه نيول شي، بلکې هغه بايد په ازاده، چې هر څه يې زړه غواړي وکړي او خپله تلوسه، تجسس او د پلټنې احساس تجربه کړي، البته دا ځيزونه پخپله د دې عمر د ښوونې او روزنې يوه موخه ده.

رسول الله (ص) فرمایي: ؛د ماشوم د باچاهۍ دوره مور و پلار ته د هغه د امر او نهي کولو پړاو دے؛

هغه مور و پلار په خپلو بچو خپله خبره منلاې شي، چې په لومړي پړاو کې يې د اولادونو خبرې منلي او پام يې ورته کړے وي، هغه مور و پلار چې د ماشوم د غوښتنو په وړاندې ودرېږي او د هغه بدني او روحي اړتیاوې پوره نه کړي، په ماشوم باندې خپله اغېزه او د خپلې خبرې اغېز هم له لاسه ورکوي او له بل پلوه د ماشوم د پټو وړتیاوو او استعدادونو د غوړېدو او ودې مخه هم نیسي.

## په لومړنیو اوو کلونو کې د ماشوم د پاچاهۍ مثبتې او ارزښتناکې اغېزې

**۱:– د ماشوم د پټو وړتیاوو برسېره کېدا:**

یو ماشوم، چې په ارام چاپېریال کې په ازاد ډول مخه کړي، چې هر څه غواړي کولاې يې شي، نو طبعاً د هغه ذهن دې ته چمتو کېږي، چې خپل ټول وس او وړتیا وکاروي او استعداد رابرسېره کړي، ځکه چې ماشوم ته د خپلو غوښتنو څرګندولو په لاره کې که څه خنډ نه ښکاري، نوخپلې وړتیاوې څرګندوي.

له بل پلوه همدا تجربې پخپله د ماشوم دپوهې او علم د زیاتېدو او د هغه د نوښت د وس د ډېرېدو لامل کېږي. برعکس که ماشوم ازاد نه وي او د هغه طبیعي غوښتنو ته پام ونه شي او یا ان د ماشومانه اړتیاوو مخه يې ونیول شي، نو هغه د خپلو وړتیاوو د برسېرولو او غوړولو موقع نه مومي داخلي محرک او انګېزه يې خپل کېږي او د ودې امکان نه مومي، نو داسې ماشومان په راتلونکي کې هم وده او پرمختګ نه کوي او له دوي باید د نوښت او ایجاد هیله ونه لرو.

**۲:– په مور و پلار د ماشوم باور:**

په لومړو اوو کلونو کې که ماشوم محسوس کړي، چې هر څه چې غواړي مور و پلار يې ورکوي، نو په مور و پلار يې باور او اعتماد پېدا کېږي او مور و پلار خپل ملګري، مرستیال او په ژوندانه کې یوه تکیه ګڼي او ورسره مینه پېدا کوي او کله چې د بالېغېدو مهال ته ورسېږي، نو ځان له عاطفې او جذباتي نظره د مور و پلار د مینې پامته داره او په هغوي پورې پېیلې ګڼي. د هغوې خبرې ته غوږ نیسي او له تجربو او لارښوونو يې ګټه اخلي او په خوانۍ کې هم، چې د ژوندانه په ډګر کې ګام کیږدي او ټولنې ته ورننځي، په ستونزو او ربړو کې مور و پلار خپل مل او لارښود ګڼي. له هغوې سره خپلې ستونزې او مشکلات شریکوي، څېړي يې او له مور و پلار څخه سلا اخلي، ځکه چې مور و پلار خپل خوا خوږي او ملاتړي ګڼي.

د عمر په دې پړاو کې، چې بچې په مور و پلار باور او اعتماد پیدا کړي، نو د هغوي استدلال او دليل هم مني او په هر حال کې ورته د مور و پلار خبره پخه او سمه ښکاري او عمل پرې کوي.
د ډېرو ځوانانو د ستونزو او ربړو يو لامل دا دے، چې په کوچنيتابه کې د هغوي روحي او احساسي اړتياوو ته پاملرنه نه وي شوي، د دې کار پايله (انجام) دا وي، چې دغو ماشومانو په مور و پلار باور نه وي پيدا کړے.
هغه مور و پلار، چې په کوچنتيابه کې يې د خپلو اولادو ښو شخصيت د جوړېدو تر ټولو مهم او حساس پړاو، چې ماشوم يې ښخي په اختيار کې وي، له لاسه ورکړے وي، په لوبوالي کې په ماشوم باندې مناسبه او ضروري اغېزه نه شي اچولے او پر هغوي نفوذ نه شي لرلاې، ځکه چې ماشومان سوکه سوکه له هغوي لرې کېږي او متقابل باور له منځه ځي تر دې چې د ځوانۍ په پړاو او ولوله کې، چې د ماشوم د استقلال او خپلواکۍ غوښتنې احساس رابرسېره کېږي، د مور و پلار او دغه ډول ماشومانو تر مينځ واټن زياتېږي او دا واټن، چې څومره ژورېږي له مور و پلار يې هغو مره کرکه پيدا کېږي. له بل پلوه د لارو کوڅو فرصت غواړي، ملګري او دوستان، د غولونکيو خواخوږيو، مينو او دوستيو په څرګندولو سره د ځوان له کمښت او نيمګړتيا ناوړه استفاده کړي. دغه ډول زلمي يا پېغلې ډېر زر ځان ته راکاږي او پر شخصيت يې اغېز اچوي.
که دغه ظاهري دوستان، ملګري يا سويلۍ بې لارې وي، نو له کورنۍ څخه د هلک يا جينۍ د لیرې کولو او د دوي تر مينځ د واټن د زياتولو له پاره مناسبه زيمنه براروي او کېداې شي داسې هلک يا جينۍ اخلاقي کړلاريو يا ټولنيزو ګډوډيو او بې لاريو ته راکاږي. د دغو ټولو ناوړه پايلو لامل دا دے، چې دا ډول کسانو غوښتنو او روحي اړتياوو ته په تېر وخت کې مناسبه پاملرنه نه ده شوې او د هغه د عمر له غوښتنې سره سم سلوک نه دے شوې. او د هغه ډېرو غوښتنو ته منفي ځواب ويل شوې دے، نو پرونې ماشوم، چې نن زلمے شوې يا پېغله شوې او د خپلواکۍ احساس يې رابرسېره شوې د خپل پلار و مور په خبرو کې کومه دلچسپي نه لري، خبره يې نه اوري، له هغوي ليرې کېږي او خپلې ستونزې او مشکلات له هغوي سره نه ګډوي، ځکه چې خپلو تېرو تجربو ته په پام سره هغه فکر کوي، چې که له مور وپلار سره خپلې ستونزې او مسايل شريک کړي او له هغوي مرسته وغواړي، نوبيا هم د تېر په څېر منفي ځواب ويني او د غوښتنو او پرېکړو مخه به يې ونيول شي.
**۳: د اطاعت پړاو لپاره د ماشوم چمتووالي:**
کله چې مور و پلار په دې خبره بريالي شي، چې له ماشوم سره دوستانه او نژدې اړيکي پيدا کړي او پر ځان د ماشوم باور لاسته راوړي، نو ماشوم هم ورسره مينه پيدا کوي او په زلميتوب يا پېغلتوب کې د هغوي لارښوونو ته پاملرنه کوي او معقولې خبرې يې اوري، ځکه چې ماشوم دا

احساس کوي، چې لکه څنګه مور و پلار په تېر وخت کې د هغه احساسات درک کړي او تل يې هغه په غوربدلي او ورين تندي او خوشالۍ منلي دي او د دهٔ شوق، ذوق، تلوسې او تجسس ته يې مثبت ځواب ويلے، اوس به هم د هغه د زده کړې او نورو تجربو لپاره زمينه برابروي، نو ماشوم له مور و پلار سره مينه او ګروهنه پيدا کوي او د خپلو تجربو او علم په زياتولو کې د مور و پلار له سپارښتنو او لارښوونو کار اخلي.

اوس چې هلک يا جنۍ په دې عمر کې وي، چې تجربې و مومي، نو د نورو تجربو ته هم ځير کېږي او له هغوي هم ګټه اخلي او د مشرانو او مور و پلار ټولې تجربې او لارښوونې په خلاص تندي مني.

مانا دا چې په کوچنيتابه کې د مور و پلار له خوا د امنيت احساس او پر ماشوم د مور و پلار باور، غوښتنو او احساساتو ته يې پام، په لويوالي کې د هلک يا جنۍ له خوا پر مور و پلار د باور او اعتماد لامل کېږي او په دې ډول ماشوم په لويوالي کې د مشرانو اطاعت او د مور و پلار خبرو ته چمتو کېږي، له روحي او نفسياتي نظره له خپل عمر سره سم له مور و پلار هر ډول لارښوونې او تجربې تر لاسه کوي او د هغو تجربو له زده کولو خوند اخلي.

**٤: په راتلونکي عمر کې د ماشوم روحي ارامښت:**

دا رښتيا ده، چې د ماشوم د راتلونکي ژوندانه (زلميتوب يا پېغلتوب) کراري او ارامښت په کوچنيتابه او د باچاهۍ پر مهال کې د هغه په خپلواکۍ، تجربې او په خپلواکه توګه له هر ډول امکاناتو څخه په ګټه اخيستنې پورې تړلې دے.په ځوانۍ يا پېغلتوب کې ارامښت، نرمي او د خبرې منل په کوچنيتابه کې د ماشوم د فعاليتونو، لوبو او خپلواکه کارونو ته پاملرنه ده. له هم دې امله د خداې ګران رسول (ص) فرمايي ؛ څومره ښه خبره ده، چې ماشوم په کوچنيتابه کې ښې لوبې، حرکت او خوځښت ولري، چې په لوېوالي کې کرار او ارام وي؛ (يستحب عرامه الغلام فے صغره ليکون حليما فے کبره)

**٥: پر ځان باور، د روحي او خپلوانکه شخصيت جوړښت**

هغه څيز، چې په کوچنيتابه او لويوالي کې د ماشوم د شخصيت او پر ځان د باور او اعتماد لامل ګرځي او ماشوم خپلواکه، هوښيار او باوري جوړوي، په کوچنيتابه کې د هغه خپلواکي او تجربه ده.

ماشوم په کوچنيتابه کې هر څه په اسانه توګه تجربه کوي او ازمايي يې او په عمل هغو تجربو پايلو ته رسېږي. او دغه پايلې هغه يقين ته رسوي، څومره چې د يو ماشوم لپاره فضا او چاپېريال مناسب وي هغومره هغه د خواوشا پر حقيقتونو د پوهېدلو لپاره چمتو کېږي او له دې امله په هغه کې پرځان تکيه، اعتماد او خپلواکي پياوړې کېږي. په داسې چاپېريال کې لومړې غوښتنې دي،

بیا کول دي او بیا ورپسې پر ځان د باور او اعتماد پیدا کېدل او بالاخره د یو خپلواک، پوخ او رغنده شخصیت جوړېدل.

**د بادشاهۍ د پړاو څو سپارښتنې**

هغه ستونزې او مشکلات، چې مور و پلار یې د ماشوم په لومړیو اوو کلونو یعنې د هغه د باچاهۍ پر مهال (وخت) محسوسوي، زیاتره پخپله د مور و پلار ستونزې او مسایل دي نه د ماشوم ځکه چې ډېر مور و پلار نه غواړي، چې ماشوم ته خپل پوره پوره وخت ورکړي او د خپل وخت یو څو شېبې هغه ته جلا (جدا) کړي او پوښتنو ته یې مثبت او ښه ځوابونه ووایي. له بل پلوه دا ډول مور و پلار د ماشوم له پاره داسې فضا او چاپېریال برابروي، چې په هغې کې ټول څیزونه د مور و پلار په خوښه، غوښتنه او ګروهه برابر شوي وي، نو داسې فضا د ماشوم د طبیعي حرکتونو، خپلواکو فعالیتونو او فطري غبرګونونو له پاره مناسبه نه ده. اوس چې ماشوم په داسې چاپېریال کې ژوندانه کولو ته اړ دے، نو له خپلو غوښتنو، تلوسو او هیلو او اړتیاوو سره سم هر څیز ته، چې لاس ورووړي او هر لور ته چې خوخي د مور و پلار او نورو مشرانو له مه کوه، وکړه، کېنه، لیرې شه، لاس ورنه وړې، اخوا ورنه شې او داسې نورو اوامرو او نواهیو سره مخامخ کېږي.
دا ډول چاپېریال د ماشوم له روحي، روغتیایي او نفسیاتي سلامتیا سره توپیر لري. او د دې نوي نیالګي غوښتنې ځپي او د هغه پټو او نغښتو وړتیاوو د ودې او غوړېدا مخه نیسي.
البته د ماشوم د ژوندانه له چاپېریاله باید هغه څیزونه، چې د هغه له پاره خطر لري، لیرې کړي شي، خو ماشوم هېڅ کله د خواوشا څیزونو له څورولو خرابولو منع کول پکار نه دي.
مور وپلار ته ښایي، چې د ماشوم د ژوندانه چاپېریال او فضا داسې برابر کړي، چې ضروري څیزونه په سمو او خوندي ځایونو کې کېږدي او خطرناک او تېز څیزونه لکه بیاتي، چاړه، زهرجن درمل، مهم کتابونه، لیکنې، یا ګران بیه او ماتېدونکے سامان د ماشوم له لاسونو لیرې او په خوندي ځاې کې وساتي.
مور و پلار باید هغه الکترونیکي او نور داسې سامانونه، چې خراب شوي او غواړي جوړ یې کړي، له ماشومه پټ دا کار وکړي او که جلا ځاې نه لري، نو کله چې ماشومان ویده وي دا کار دې وکړي او که د ماشوم په مخکې یې کوي، نو هغه دې په غوسې او رټلو له ځانه لیرې کړي.
هم دا راز لویو هلکانو، پېغلو او مشرانو ورونو، خوېندو ته ښایي، چې خپل سامانونه د ماشوم له لاس څخه لیرې او پټ ساتي، میندې باید د ګنډلو سامان مشین، ستنې او داسې نور څیزونه له ماشومه لیرې وساتي او کله چې ماشوم ویده وي ګنډل دې کوي، ځکه چې که ماشوم دغو څیزونو ته ورننوځي شي او خداې مه کړه ځان خوږ کړي، نو ماشومان ګرم نه دي، بلکې د دې پېښې اصلي ګناه د مور و پلار پر غاړه ده.

که تاسو د خپلو اولادونو و ده وړتياوو غوړېدل غواړئ، نو بايد تل هڅه وکړئ، چې د ماشوم باچاهۍ او واکوالۍ ته کوم زيان و نه رسېږي او هره ورځ ماشوم ته د ؛مه کوه؛ او ؛ وکړه؛ ؛ليرې شه ؛او ؛اخوا شه؛ ؛لاس ورنه وړې؛ او داسې نورو تلقينونه او امر و نهې مه کوئ؛

که ماشوم داسې يوه غوښتنه وکړي، چې پوره کول يې شونې نه وي يا اولاد ته زيان رسوي، نو د هغه د باچاهۍ په ساتلو سره د هغه پام په ډېره ښه توګه بل پلو ته وګرځوئ او داسې کار ته يې پام وګرځوئ، چې څه ناڅه د هغه د غوښتنې ځاې ونيسي او په داسې چل، چې ماشوم متوجه نه شي خطرناک څيز د هغه له لاسه ليرې کړئ.

د بېلګې په توګه که ماشوم چاړه يا بياتي لاس ته راوړه، نو له چغو او غوسه کېدو پرته په يوې طريقې سره د هغه پام د لوبو نور سامان ته واړوئ او چاړه ترې واخلئ. البته غوره دا ده، چې مخکې له مخکې د ماشوم له لاسته راوړنې څخه داسې څيزونه ليرې وساتل شي، چې د هغه له پاره خطرناک وي او مونږ مجبور شو، چې هر څيز د ماشوم له لاسه واخلو او وکړه، مه کړه، وکړه ځکه چې دا مهال د ماشوم د باچاهۍ، د هغه د تلوسو هيلو او ګټه ورو حسي تجربو مهال وي، نو بايد د هغه د تجربو مخه ونه نيول شي او د هغه د نوښتونو او د استعداد د غوړېدو څنډ نه شو.

دا پړاو له محسوساتو سره د ماشوم د بلدتيا او اشنايي مهال دے او په دې عمر کې، چې د ماشوم حسي تجربې څومره پياوړې وي، په راتلونکي ژوندانه کې به هماغومره پياوړې تفکر، تعقل او نوښت ولري.

هم دا راز مور و پلار او مشران بايد په دې عمر کې د ماشومانو د لوبو او فعالتونو له پاره مناسبه او پراخه فضا برابره کړي، چې ماشوم په خپلواکه توګه خپلې تجربې وکړاې شي. پکاره ده، چې تل د ماشوم غوښتنو ته پام وشي او له بل پلوه له هغو ټولو وسايلو او څيزونو، چې د هغه د سپکاوي او د شخصيت د خرابېدو لامل کېږي، ليرې وساتل شي.

البته دلته د هېواد د چلونکيو او حکومت دنده هم دا ده، چې د راتلونکي نسل او د نن ماشومانو او د سبا ځوانانو د ودې او د هغوي د استعدادونو د غوړېدو له پاره مناسبې زمينې، پارکونه او د لوبو ځايونه جوړ کړي، چې د يو هېواد د ماشوم استعدادونه او وړتياوې، چې د يو قام پانګه او شستنه ګڼل کېږي، بې ځايه لاړ نه شي.

# د ژوندانه درېيم اووه کلونه

د ژوندانه درېيم اووه کلونه،چې له پېنځلس کلنۍ پيلېږي، د بالغېدو او ځوانۍ عمر دے.د ژوندانه په دې پړاو کې زلمې د بالغېدو د بحران او بدلانه له امله بېلا بېلې او متفاوتې ګروهنې، غوښتنې او احساس لرې.

له يوې خوا ماشومانه ځان غوښتنه او له نورو سره له مينې اودلچسپۍ سره اخښل کېږي. پېغله يا زلمے له دې سره سره، چې غواړي له خپلو دوستانو او ملګرو سهر وي، يوازېتوب هم غواړي. پرونے خوخوځنده او ولوله ناک ماشوم په ننني حساس او ژر خپه کېدونکي او نازک هلک يا زلمي بدل شوے وي او د بدن چټک بدلونونه او اوښتونو نه د هغه پر روحي او نفسياتي حالاتو ډېر اغيز ښندي په هغه کې د جنسي ځواک له راپېدا کېدو سره د مخالفت جنس په پرتله يو ځانګړے احساس پېدا کېږي.

دا مهال هلک ډېر حساس، نازک او زر خپه کېدونکے وي او د نورو د کړو وړو پر وړاندې چټک غبرګون ځرګندوي. کله کله له ځان سره چورته او سوچونه وهي او کله د خواوشا کسانو خبرو ته ځير کېږي. په دې عمر کې نجلۍ يا هلک ډېر زر له همزولو تقليد او زده کړه کوي او د هغوے د کړو او چلند پېروي کوي، د شخصيت له نظره د کوچنيتابه نسبي کراري له نابرابره بدلا نه سره مخامخ شوے وي او په هلک کې يو ډول داخلي محرکونه او بېل کونکے قوت پېدا کېږي، چې يو اړخ يې د خپلواکۍ غوښتنې هم وي د هغه ټولنيزه غړملتيا ګډه وډه شوې وي او پټ ځواک يې په يو ډول د رابرسېره کېدو هڅه کوي.

نو په کړو وړو کې يې د ځان ښوونې، ځان منني او د ځان د ځرګندولو او نورو نه د ورمحسوسولو احساس ډېر وي. غواړي، چې په نورو کې مطرح شي، نوم يې وشي، ورته پام وشي او يو رول يا دنده په غاړه واخلي. البته حالات او شخصيت يې سست او ناپايداره وي او کله کله په نورو بې باوره کېږي او کار ته ډېره حوصله نه لري له خپلو نيمګړتياوو سره مقابلې ته متې رانغاړي، په نوروپورې د پېلتيا او پيوستون وخت يې پوره شوے وي او غواړي د خپلواکه ژوندانه بنسټ کېږدي.

د هغه د خواوشا کسان، مشران او په ځېره بيا مور و پلار بايد د هغه په دې حالات او د هغه په کړکېچن او حساس پوزېشن پوه شي ا له هغه سره د ې په مينه، محبت او ځانګړي نزاکت سره چلند کوي لکه څنګه چې د خدا ے رسول فرايي: تاسو ته سپارښتنه کوم، چې ځوانانو يا پېغلو سره نرم او مهربان اوسئ، ځکه چې د هغوے زړونه نو په ځينو ځايونو کې بايد د هلک او نجلۍ په غلطيو شترګې پټې کړا ے شي او ورځنې تېر شئ. پکار ده، چې تل هغه له ځان سره نږدې وساتو او تر خپله وسه ورسره ملګرتيا وکړو او د هغه روحي او عاطفي اړتياوو ته ځواب ووايو.

د مور و پلار او مشرانو د ښه چلند او صحيح کړو وړو له امله ورو ورو د کوچنيتابه نښې ختمېږي او په هلک کې د ځوانۍ او ورې نښې احساسېږي. د عمر په دې پړاو کې د زلمي او هلک ذهني وده چټکېږي او له ذهني نظره عقلي بلوغ ته نږدې کېږي.

د خدا ے رسول حضرت محمد (ص) د عمر په دې پړاو کې د ماشوم پوزیشن د وزیر پوزېشن ګڼلے او د دې مانا دا ده، چې هغه نور د اطاعت، خبره منلو او ازموینې پړاو تېر کړے او د کورنۍ په هېواد کې د وزیر رول لوبوي.
ماشوم د بالغېدو بر مخه په کورنۍ کې کوم مسولیت او دنده نه لري، خو کله چې بالغ شي، نو ښايي چې يوه دنده وروسپارل شي او د کورنۍ د درانده پېټي يوه برخه په اوږو واخلي. په بله مانا بايد د مور و پلار مرستيال شي او د کور د چارو په چلولو او پرېکړو کې ورسره سلا وشي. په پرېکړو کې يې خبرو ته پام وشي او د شخصيت درناوے يې وشي، چې په دې ډول يې د خپلواکۍ غوښتنې او ځان څرګندونې جذبه پوره شي. په دې عمر کې هلک د دين په اړه هم ډېر سخت احساسات پيدا کوي، نو بايد داسې فضا ورته برابره شي، چې د احکامو او عقايدو له نظره هم بشپړ شي.
دغو خبرو ته په پام سره د ماشوم په وړاندې د مور و پلار مهمه دنده او فرض ښه څرګندېږي.

## د روزنې مسولیت

مور و پلار د ماشوم د روزنې مسولیت پر غاړه لري. د خدا ے ګران استازے حضرت محمد (ص) فرمايي؛ خپل اولادونه وروزے (ادبو اولادکم فانکم مسئولون عنهم) ؛او تربيت يې کړئ په رښتيا چې له تاسو به د هغه په اړه پوښتنه کېږي؛.
امام سجاد عليه السلام هم د بچو د حق په اړه فرمايي ؛....او په تا باندې د بچې حق دا دے، چې خبر شې، چې هغه ستا له وجوده دے او په دې نړۍ کې د هغه ښه او بد په تا پورې تړلي دي. ته د هغه د رابلنې مسول يې، نو ستا عمل بايد د هغه په اړه د هغه چا د عمل په څېر وي، چې پوهېږي، که له بچي سره نيکې وکړي، نو جزا او بدله به ورکول کېږي او که لنډون وکړي، نو سزا به ويني؛ [۱]امام سجاد عليه السلام له خدايه غواړي؛ اے خدايه له ما سره د اولاد په روزنه کې مرسته وکړې.
د خدا ے رسول(ص) ؛اے خلکو تاسو ټول د خپلو لاس لاندې کسانو څاورنکي او مسول ياست، څوک چې د ځان او نورو په سمولو او اصلاح لګيا وي، د هغه چا په څېر نه دے، چې يوازې د خپلې اصلاح په فکر کې وي او څوک چې د نورو ازار او خورو زغمي او د هغه چا په خبر نه دے، چې هوسا ، ارام او سوکاله ژوند کوي. د اولاد او کورنۍ د سختيو زغمل د خدا ے پر لار کې د جهاد په څېر دے.؛
له دې روايته څرګندېږي، چې مور و پلار بايد د اولاد د حقوقو په ورکولو او پوره کولو کې سستي ونه کړي او د خپلو اولادونو له روزنې سرغړونه ونه کړي.

## له ماشومانو سره عادلانه چلند

يوه ورځ يو سړے له خپلو دوو اولادونو سره د خدا ے رسول ته ورغے.پېغمبر (ص) وليدل، چې دغه کس خپل يو بچې ښکل کړ او بل ته يې څه پام ونه کړ د خدا ے ګران استازي، چې کله د هغه دا ناعادلانه او بې انصافه چلند وليد ، نو ورته يې وفرمايل؛ له خپلو اولادونو سره له انصاف او برابرۍ ولې کار نه اخلې؛ بيا يې وفرمايل ؛ په خپلو اولادونو کې له انصافه کار اخلے؛ لکه څنګه چې غواړئ، ستاسو اولاد او نور خلک ستاسو په چارو او معاملو کې له انصافه کار واخلي؛ وايي، چې يوه ورځ يوه ښځه له خپلو دوو بچيو سره د خدا ے د استازي ماندينې بي بي عايشې ته ورغله. بي بي عايشې هغې ته د خرما (کجورو) درې دانې ورکړې، ښځې هر يوه ته يوه يوه خرما ورکړه او دريېمه هغه يې نيمه کړه او هر يوه ته يې نيمه نيمه ورکړه.

کله چې د خدا ے رسول کور ته راستون شو ، بي بي عايشې ورته کيسه وکړه، د خدا ے رسول وفرمايل، ته د دې ښځې په کړو حيرانه شوې، حال دا چې خدا ے تعالے به د همدې کار له امله هغه جنت ته شوځي.[۲]

## د پېغمبرانو په سيرت کې د ماشومانو تر منځ عدل

نعمان بن بشير وايي؛ يوه ورځ يې پلار ماته يوه ډالۍ راکړه، خو زما نورو ورونو اوخوايندو ته يې څه ورنه کړل. مور مې عمر بنت رواحه ته وويل ستا دا کار سم نه دے. زه دې په دې کار خوشاله نه يم او راځه، چې په دے اړه د خدا ے تعالے له رسول څخه پوستنه وکړو ، که هغه ستا د کار سپيناوے وکړ، نو زه يې منم. دواړه د خدا ے استازي ته ورغلل او پلار مې له رسول الله مبارک پوښتنه وکړه، چې ما خپل يوه بچي ته ډالۍ ورکړه او ښځه مې وايي، چې دا کار دې سم نه دے بايد دخدا ے رسول يې د سموالي ګواهي ورکړي، نو تاسو په دې کې څه وايا ست؟

د خدا ے رسول پوښتنه وکړه؛ ټولو بچيو ته دې واسې ورکړي؟وې ويل: نه

هغه حضرت (ص) وفرمايل: نو له خدايه وويرېږئ او په بچيو کې له انصافه کار اخلئ، زه په ظالمانه کار ګواهي نه ورکوم (يائې ستا دا کار له نورو بچيو سره يو ډول ظلم دے). [۳]

په ماشومانو کې د مينې په ويشلو کې بايد له ډېرې ځيرتيا کار واخستل شي

حضرت يعقوب عليه السلام دولس زامن لرل، چې په هغوے کې دوه زامن يانې يوسف او بنيا مين له بلې مور وو ، چې راحيل نوميده.يعقوب عليه السلام به دغو دوو بچو په تېره بيا يوسف عليه السلام ته ډېر پام کاوه او زيات بينه به يې ورسره کوله، ځکه چې لومړے خو دوے تر ټولو واړه او کشران وو او طبعا زيات ملاتړ او مينې ته يې اړتيا لرله او دويمه دا ، چې ځينې روايتونه وايي، چې دوے دواړه يسيران وو او مور يې يانې راحيله بي بي په حق رسېدلې وه، نو له دې امله

چې د مور له مينې بې برخې وو، حضرت يعقوب به ورره زياته مينه کوله، چې دا کمے يې پوره کاندي.
تر دې ورتېر حضرت يوسف عليه السلام ډېر هوښيار او نابغه و او دا چارې د دې لامل شوې، چې حضرت يعقوب عليه السلام په څرګنده له هغه سره تر نورو زياته مينه وکړه. د يوسف حاسدانن ورونه بې له دې، چې دغو ټکيو ته پاملرنه وکړي، له دې چارې سخت خپه شول او په خپلو کې يې وويل، چې زمونږ پلار له يوسف او د هغه له ورور سره ډېره مينه کوي، حال دا چې موږ تکړه يو، د کور کارونه کوو او د پلار او نور کور چارې پرمخ بيايو، نودا خو له مونږ سره زياتے دے.
بيا يې په يو اړخيز قضاوت سره خپل پلار وغنده او وې ويل: څرګنده ده، چې زموږ پلار په غلطه روان دے. له حضرت يوسف عليه السلام سره د ځپلې او حاسدۍ احساس بالاخره هغوے يو پلان ته ورسول او په خپلو کې يې پرېکړه وکړه، چې يا خو بايد يوسف ووژنو او يا يې له دې ځايه دومره کرې کړو، چې د راستنېدو امکان يې نه وي. بيا به نو پلار ټوله مينه له مونږ سره کوي او ټوله پام لرنه به يې موږ ته راوګرځي، خو په دوے کې يو ورور، چې ډېر هوښيار او پوهه و، د حضرت يوسف عليه السلام د وژلو له پلان سره مخالفت وکړ او وړانديز يې وکړ، چې يوسف به نه وژنو، بلکې په يو کوهي (چاه) کې به يې وغورځوو، چې ژوندے پاتې شي او که کومه قافله يا کاروان ورباندې راغے، له ځانه سره يې يوسي، نو موږ به هم تري خلاص شو او لاسونه به مو هم په وينو سره نه شي.
لنډه دا چې ټولو ورونو د سيل او چکر په پلمه يوسف عليه السلام له ځانه سره يووړ او يو کوهي ته يې وغورځاوه. په ژاړه پلار ته ستانه شول او وې ويل، چې بابا جانه موږ په لوبو لګيا وو او د غشو ويشتلو او سورلۍ سيالي مو کوله او يوسف مو، چې ډېر وړوکے و له خپل سامان او جامو سره کښيناوه، خو موږ په لوبو کې دومره بوخت شوو، چې ان خپل ورور مو هم هېر شو او چې کله خبر شوو، يو بې رحمه لېوه راغلے و او هغه يې خېر لے و.
بيا د دې لپاره، چې خپله خبره پخه ړي، د حضرت يوسف عليه السلام کميس (خت) يې هم په وينو لړلے پلار ته وښود.[٤]
په قران شريف کې نور ډېر سبقونه هم شته، خو يو سبق يې دا دے، چې ميندې او پلرونه بايد له خپلو اولادونو سره د مينې په څرګندولو کې له ډېرې ځيرتيا څخه کار واخلي.
که څوک هم حضرت يعقوب عليه السلام په دې لړ کې کومه خطا نه ده کړې او که له يوسف او د هغه له ورور سره يې مينه کوله، نولاملونه يې هم هغه وو، چې مخکې مو بيان کړل، خو په هر حال له دې کيسې معلومېږي، چې له ماشومانو سره په چلند او مينه کې بايد له ډېرې ځيرتيا او پاملرنې کار واخيستل شي، ځکه چې کله کله له يوه ماشوم سره زياته مينه او يو کس ته زياته توجه دبل

ماشوم په زړه کې داسې کینه او حسد جوړوي، چې هغه بیا هر یو بد او ناوړه کار ته لاس اچوي او د هغه شخصیت دومره ماتوي، چې هغه ان د خپل ورور یا خور وژلو او ورته د زیان رسولو لپاره هیڅ برید نه پېژني. هر ډول چې وي، خپله غوسه ښکاره کوي او که د غوسي او خپلې د څرګندولو وخت ونه مومي، نو په زړه کې یې کینه حسادت او د کمي احساس پاتې کېږي او د محبت او بینې د کمښت له احساس سره لویېږي او کله کله کېدا ے شي په نفسیاتي او روحي ناروغیو اخته شي.
ښه مې یاد دي، چې زما دیوملګري وړوکے زوے ناروغ شوے و او طبعا مینې او روغتیا پالنې ته یې ډېره اړتیا درلوده. پلار یې د هغه مشر ورور ته د هغه د ساتنې او روغتیاپالنې او ورسره د مینې کولو دنده سپارلې وه او هغه یې په دې کار ګومارلے و. څه موده نه وه تېره، چې مشر زوے یې په یوې ناپېژاندې نفسیاتي او اروايي ناروغۍ اخته شو، ما مې ملګرې ته وویل زما په خیال ستا د مشر زوے ناروغي د مینې د کمښت او د محبت د نیمګړتیا احساس اره ناروغي یې دا ده، چې مینه ورسره کمه شوې ده د پلار یې باور نه کېده، تر دې چې رنځپوه ته یې وروست، هغه اروايي رنځپوه روته وویل، چې ستا زوے کومه ځانګې ناروغي نه لري، د دې اره ناروغي دا ده، چې د مینې د کمي له احساس سره مخ شوے دے، ځکه چې کشر ورور ته یې ډېره پاملرنه او ورسره مینه شوې او له ده سره کمه
له همدې امله حضرت امام باقر علیه السلام فرمایي: زه کله کله لو یوه بچي سره ډېره مینه کوم هغه په خپل زنګانه کېنوم او خواږه ورکوم. حال دا چې پوهېږم دا دومره مینه د هغه بل حق ده، خو دا کار د دې لپاره کوم، چې کوم بچے مې د نورو په خلاف ونه هڅېږي، له بل سره یې حسد پیدا نه شي او هغه کار ورسره ونه کړي، چې د یوسف ورونو هغه سره کړے و.[٥]

## په ماشومانو کې عادلانه قضاوت او د ببۍ ناوړه پایلې عدالت

امام صادق علیه السلام فرمایي: ماشومانو به د ښوونځي درسونه حضرت علي علیه السلام ته وړل او دوے به یې په منځ کې پرېکړه کوله او ښه او غوره به یې معلوماوه.
امام علے علیه السلام به په دې اړه فرمایل: دا کار یو ډول قضاوت او حکومت دے او په دې کار له ماشومانو سره زیاتے داسې دے لکه څوک چې د حکومت او قضاوت په چاره کې له چا سره ظلم وکړي، ښوونکیو ته مو وایي، چې که د ډبولو په وخت مو له دریو ګوزارونو زیات ووهي قصاص کېږي به.[٦]
یو زلمے وایي زه له کوچنیتابه ډېر ترخه یادونه لرم، چې ببخي یې نه شم هېرولا ے. پلار به مې زما او د وړوکي ورور ترمنځ توپیر کاوه دواړو ته به یې په یوه سترګه نه کتل او هغه پرې تر ما زیات ګران و، له هغه سره به یې مینه کوله او زه به یې غندلم رټلم. د همدې ظالمانه چلند له امله مې له پلار او ورور سخته کرکه پېدا شوه، زړه مې غوښتل، چې د دې غیر انساني او ظالمانه چلند غچ

ترې واخلم، خو هيڅ مې له لاسه نه کېدل، د سختې غوسې او خپګان له امله مې چې کله څوک په کور کې نه و، نودمېلمنو کوټې ته به ورغلم او الماری او صفا ديوالونه به مې په ميخ نړول او خرابول به مې. کله به مې ښيښې ماتولې او چې څه ورانے به مې له لاسه کېده کاوه مې. البته نور څه مې له لاسه نه کېدل، ګنې زړه مې ډېر څه غوښتل. پلار مې هېڅکله له دې چارې خبر نه شو او دا باور يې نه کېده، چې د کوټې الماری او ديوالونه به ما خراب کړي وي يا به دا زيان ما وررسولے وي.

يوه مېرمنه وايي، زمونږ يو ګاونډي دوه لوڼې لرلې، يوه هوښياره وه او بله لږه کم عقله او کم هوشه. دواړې به ښوونځي ته تللې، مشره لور چې هوښ و عقل يې ډېر تېز نه و، د ښوونځي په سبق کې ډېره ښه نه وه او يېر وخت به يې نومرې کمې وې، خود کشرې لور نومرې ډېرې وې او په سبق کې هم تکړه وه. مور به يې هر وخت او هر چا ته د خپلې وړې لور ستاينې کولې او دلويې بد به يې ويل دکشرې تعريفونه به يې کول، شاباسے به يې ورکاوه او مينه به يې ورسره ډېره ښکاره کوله، خو مشرې ته به يې ويل، چې يوازې خاورې دې پر سر شه، غټې ګټې، ته به لا نورو غټېږې، نه سبق وايې او نه دې زده کېږي. هسې مو درباندې دومره پيسې ولګولې په تا خو مې دا جامې اوخواړه هم نه سود کېږي، بد مرغې، لټې، اخر ستا نه به څه جوړېږي؟

مشره لور يې اوس واده شوې او د څو اولادو مور ده، خو يوه روغه او سالمه ښځه نه ده، تل د سپکاوي او نيمګړتيا احساس کوي، په هر ځاے کې يې يوازيتوب خوښېږي، په مېلمستياو کې چرته يو ګوټ کې ناسته وي او خبرې نه کوي. کله چې ورته څوک ووايي، چې ته هم څه ووايه، نو يو سوړ اسوېلے وکړي او وايي، چې زه څه ووايم؟

څو څو ځله يې ډاکټر ته هم وروستې ده او ډاکټر تر ازموينې وروسته ورته ويلې، چې وا ښځه ناروغه نه ده، بلکې د دې مور و پلار ناروغان دي، چې دا يې تر دې بريده رسولې ده.

يوه ورځ ترې يوه رنځپوه وپوښتل، چې ډوډۍ پخولې شې؟ ښځه په ژاړه شوه او وې ويل هو پخولاے يې شم، خو هر کله چې ډوډۍ پخه کړم پلاو و مور مې ورته کومه ځانګړې پاملرنه نه کوي او وايي ماشاءالله د کشرې خور لاس دې ډېر ښه دې او ډېر خوندوره ډوډۍ پخوي.

له دې کيسې ښکارېږي، چې په کوچنيتابه کې د ماشومانو رټل او يې ځيه خبرې، د هغوے د شخصيت خرابول او له نورو وروټو، خوېندو ان له پرديو خلکو سره د هغوے يې ځايه پرتله څومره ناوړه اوبدې پايلې لرلاے شي. د دې ښځې د لويوالي د ناروغۍ او تدمرغۍ ار لامل هماغه د کوچنيتابه بې پامي، سپکاوے او د شخصيت کمزوري کول وو داسې ماشومان هېڅ کله په خپل ژوندانه کې باوري او په ځان اعتماد لرونکي کسان نه شي جوړېدا ے او په ټول ژوندانه کې ځانونه تر نورو کم، کم لياقته او نيمګړي ګڼي، د هغوے ذهن ته په کوچنيتابه کې دا خبره چې دے يو

ناپوه، کم عقل او د نورو په پرتله نیمګړے او کم دے، دومره القاء شوې وي، چې په لوېوالي کې که د هغه د شخصیت د روغولو او سمولو لپاره هر څومره هلې ځلې وشي، هیڅ ګټه نه لري او دا ډول خلک په خپل ټول ژوندانه کې کم باوره او کم شخصیته خلک وي.

[١] - وسایل، ٣ ټوک ١٣٥ مخ
[٢] - سنن ابن ماجه
[٣] - میزان الحکمه، ١٠ ټوک، ٧٠٧ مخ
[٤] - یوسف سوره قران شریف
[٥] - تفسیر نمونه، ٩ ټوک
[٦] - تهذیب ، ١٠ ټوک، ١٥٠مخ

# د نامه ټاکنه

مستحبه ده، چې ماشوم ته تر زېږېدو وروسته یو ښه نوم ورته وټاکل شي. د ښه نامه ټاکل په پلار باندې د بچي یو حق دے او پلار باید وپوهېږي، چې په بچي باندې ښه نوم کېږدي.
د بچیو لپاره تر ټولو غوره نومونه هغه دي، چې د خدای تعالی د بندګۍ او عبادت مانا ورکړي، لکه عبدالله، عبدالرحمان، عبدالرحیم او داسې نور... په دویم پړاو کې ښه نومونه د رسولانو او امامانو نومونه دي. که د یو ماشوم نوم محمد وي، نو ښه نه ده، چې کنیت یې ابوالقاسم وي.
د اسلام له مخې د خداې تعالی نسبتی او صفتی نومونه او هم دا ډول د رسولانو او امامانو نومونه ښه ګڼل شوي او ثواب یې بیان شوی دی. د دې مانا دا نه ده، چې مونږ باید هر ډول عربي نومونه پر ځان کېږدو ، که یو طرف اسلامي نومونه (نه عربي نومونه) کیښنول غوره ګڼل شوي، نو له بل پلوه د پښتو نومونو کیښنوول هم د اسلام له نظره روا دي او زما په خیال، خو که انسان داسې نومونه کېږدي، چې هم د هغه د دین او اسلامیت ښوونه کوي او د هغه د قومیت، نو دا به ډېره ښه وي لکه ایمل حسن، محمد خوشال، ګل محمد ، حسن غلام، حسین علی او داسې نور...
ځینې خلک دا خیال کوي، چې ګوا کې د پښتو نومونو کیښودل ښه کار نه دی. حال دا چې، داسې ښېخي نه ده. که مونږ د خپل خوا و شا پر مختللیو مسلمانانو ولسونو ته یوه کتنه وکړو ، نو ګورو ، چې هغوی له یوه پلوه خپل مذهب او اسلامیت ټینګ کړی او له بل پلوه یې خپل لرغونی دود ، دستور ، قومیت او کولتور هم ژوندې ساتلای دی. د بېلګې په توګه، به ایرانیان واخلو ، دا قام له یوې خوا په اسلامي نومونو ټینګ ولاړ دي، خو له بل پلوه یې خپل دودیز او لرغوني نومونه هم نه دي پرېښې او داسې ایرانیان لږ لیدل کېږي، چې د نامه یوه برخه یې د خپل ایرانیت څرګندونه ونه کړي.

هم دا راز په پنجابیانو کې هم الله دته، الله رکها او داسې نور... نومونه تر سترګو کېږي.
نوم، چې د انسان د شخصیت او پېژندګلوۍ لومړی ټکی او وسیله ده، څو شرطونه باید ولري.
لومړی دا چې پکار ده ښه او خواږه وي،زېږه ترخه او سپک نه وي لکه؛ ډیرانی؛ او داسی نور.
او بله دا چې لکه څرنګه، د یو کس د دین او لارې ښووندوی دي، هم دا ډول د هغه د قام او کولتور ښوونه هم باید وکړي. اسلام هیڅ کله د داسې نومونو مخالفت نه دے کړی، چې د یو کس د قام، ولس او کولتور یا تاریخ ښووونه کوي، خدای تعالی که په قران شریف کې له یوې خوا فرمايي، چې تاسو کې تر ټولو ښه او خداې ته نږدې کس هغه دے، چې متقي او پرهېزګار وي، نوله بلې خوا یې دا هم ویلي، چې تاسو مې ډلې ډلې او قامونه، قامونه کړئ، چې سره وپېژندل شئ.
له دغو خبرو مې مطلب دا ده، چې که څه هم اسلامي نومونه غوره او ښه دي، خو پُښتنو نومونه هم د اسلام له احکامو سره توپیر او فرق نه لري.

# د اولاد تربیت او د دوې پړاوونه

خدای تعالی د سوره تحریم په ۱۶ ایت کې فرمايي؛ یا ایهاالذین امنو قوا انفسکم او اهلیکم النار
ترجمه : ای د ایمان خاوندانو ځانونه او کورنۍ مو د دوزح له اوره وژغورئ او وساتئ.
حضرت علی علیه السلام د دي ایت په سپړنه کې فرمايي: ځان او کورنۍ او اولاد ته ښه ښوونه او روزنه ورکړئ او ښه یې وروزئ. چې د دوزخ له اوره بچ شي. یوه ډېره مهمه مسئله، چې نن ورسره علمي ټولنې او نړۍ مخامخ ده او ډېرې خبرې پرې شوې او کېږي، د انسان د ښوونې او روزنې مسئله ده.

د اسلام له نظره د ښوونې او روزنې موخه (مطلب) هغه لارې چارې او طریقې دي، چې د یو ماشوم تر زېږېدو او ان د هغه تر زېږېدو مخکې باید وکارول شي، چې د انسان پټې وړتیاوې او په هغه کې نغښتې استعدادونه لازمه وده وکړي او وغوړېږي او انسان د تکامل او بشپړتیا لاره کچ کړي اسلام د یوې ایډیالې او بیلګه ټولنې د جوړولو لپاره ځان ته لارې چارې او ارونه لري. د اسلام د احکامو او اوامرو په توګه دغو ارونو ته باید د کورنۍ له جوړولو یانې تر واده مخکې، د ماشوم تر زېږېدو د مخه، وروسته او د اولاد د ودې په پړاوونو کې پاملرنه وشي.
ځان ته د جوړې (ښځې یا مېړه) غوره کول، د کورنۍ جوړول، د ښځې او مېړه پر یو بل حقونه، د نطفې (بچي) د غوټه کېدو څرنګوالی، د حاملګۍ او امېندوارۍ په پړاو کې د مور حالات، د جنین او سخرې ته هر اړخیزه پاملرنه، د ماشوم د نامه ټاکنه، د زېږېدو د وخت او لومړۍ اونۍ اداب او دودونه، د شودو ورکول او داسې نورې خبرې ټولې هغه چارې دي، چې د یو انسان په جوړښت او د هغه د شخصیت د رغیدو په څرنګوالي کې رول لوبوي.

په کلي ډول د اسلام له نظره د ماشوم د تربیت او روزنې پړاوونه په دوو برخو وېشلی شو یانې تر زېږدو د مخه او تر زېږېدو وروسته تر زېږېدو د مخه پړاوونو کې د جوړې (ښځه یا میړه) په غوره کولو او واده کې د ضروري او لازمو څیزونو خیال ساتل. البته دا چاره ماشوم ته د ښو او غوره صفتونو او ځانګړتیاو د لېږد له اړخه مهمه ده د نطفې د غوټه کېدو په وخت، ضروري خبرو ته پاملرنه او د امېندوارۍ او حامله توب په پړاو کې د ضروري تدبیرونو خیال ساتل.

د ماشوم تر پېداکېدو وروسته پړاو په پېنځو مهمو برخو وېشل کېږي.

- **کوچنوالې او ماشوموالي**
- **هلکتوب**
- **ځواني (زلمیتوب یا پیغلتوب)**
- **لویوالی**
- **زوړوالی.**

دلته زه غواړم، چې یوازې د یو انسان د ژوندانه د لومړیو درېو پړاوونو (کوچنوالي، هلکتوب او زلمیتوب) په اړه یو څه وغږېږم.

د خدای ګران استازې حضرت محمد (ص) د انسان د تربیت لومړي پړاوونه په درېیو مهمو برخو ویشي او فرمایي: اَلوَلَدُ سَید سَبعَ سِنِینَ و عبد سبع سنین و وزیر سبع سنین؛ (مکارم الاخلاق. ۲۲۲مخ)

یانې: ماشوم په لومړیو اوو کلو کې باچا او سرخیل دے، په دویم اوو کلو کې مطیع او مریه اوغلام دے او په ورستیو اوو کلو کې وزیر او مسئول دے.

د اسلام د قدرمن پیغمبر د دې وینا په الهام سره تر ۲۱ کلو د انسان دتربیت او لوبیدا پړاوونه په دریو پړاوونو وېشلي شو باچاهي، اطاعت او وزارت.

دا درې پړاوونه په وړوکوالي، هلکتوب او زلمیتوب تطبیق او سمون خوري.

که یو ماشوم په حقیقي او رښتینې مانا سره د پاچاهۍ او واکوالۍ موده تېره کړي او په بشپړ ازادۍ یې غوښتنې پوره شي، نو ډیر په ښې طریقې سره د اطاعت او منلو پړاوو ته ورننوځي او هر وخت به د مور و پلار او مشرانو خبره مني او که د اطاعت دا پړاو هم په سمه توګه تېر کړي، نو د کورنۍ په چاپېریال او کور کې د مور و پلار د وزارت او د هغوی د ځای ناستي مقام ته په ښه توګه رسېږي.

# د ماشوم لومړني ښوونکي

هو! د ماشوم ذهن د یو سپین بورډ، تابلو یا د یو خالي کیسټ په څېر دی او په دغه بورډ چې دې هر څه انځور کړل یا په دغه کیسټ کې دې چې هر څه ثبت کړل، هغه پکې پاتې کېږي. اوس نو ستاسو خوښه ده، چې ښه څیزونه پرې انځوروئ او که بد.
زمونږ زیاتره خلک د ماشومانو په مخکې د خپلو کړو او کارونو څه خاص خیال نه ساتي او وایي، چې دا خو ماشوم دی، نه پوهیږي. حال دا چې دا خبره بیخي ناسمه ده. د ماشوم لپاره لومړی ایډیال او بیلګه د هغه مور او پلار وي او له دې امله، چې هغه خپل پلار یا مور د نړۍ تر ټولو لوی خوراک ګڼي او د هغه ټول کارونه سم او روا ګڼي، نو په غوښتې یا ناغوښتې توګه د مور و پلار د ټولو کړو نه یوازې تقلید کوي، بلکې دغه کارونه ښه هم ګڼي، نو په کور کې په ناستې پاستې، اړیکیو، خوراک څښاک ان د ژوندانه په ټولو چارو کې مور و پلار د ماشومانو لومړني ښوونکي دي. هغه د یوه پوه خبره، چې وایي؛ د ماشوم لومړی ښوونځی، د مور غیږه ده؛.
دغو ټکیو ته په پام سره مور و پلار باید د ماشومانو په مخکې د خپلو ټولو کړو او خو ځښتونو خیال وساتي او خپل کارونه او اخلاق دې یوازې په ځان پورې محدود نه ګڼي، بلکه دې خبرې ته دې تل پام لري، چې د دوی هر یو عمل، هره خبره او هر خو ځښت د اولاد ځیرنې او څارنې لاندې دی او که ماشوم هر څه زده کوي، له دوی څخه یې زده کوي.
که یو پلار په کور کې دروغ وایي او له ماشوم سره د دروغو ژمنې او وعدې کوي، نو دا تمه ونه ساتي، چې زوی یا لور یې په ګانده کې یو صادق او رېښتینی انسان جوړ شي، ځکه چې ماشوم دغه دورغ یا بل غلط کار ان د خبرو طریقه، غوسه، خپګان او نور ټول کارونه د ښو کارونو په خیال له پلار او موره اخلي او زده کوي یې.
ایا تاسو تر اوسه دا سوچ کړی، چې ماشوم دروغ له کوم ځایه زده کوي؟ د ماشوم دروغ ویل کېدای شي ډیر لاملونه او سببونه ولري، خو یو لامل سبب یې په کور کې د مورو پلار دروغ ویل دي. د بیلګې په توګه به درته یوه کیسه وکړم.

# ماشوم دروغ له کوم ځایه زده کوي

موټر روښانه دی، پلار یې غواړي چې له کوره بهر لاړ شي، کله چې په موټر کې سوریږي، نو ماشوم یې رامنډه کوي او وایي؛ پلاره ما هم له ځان سره بوځه، پلار ورته وایي، چې نه بچیه، زه ضروري کار لرم تا نه شم بوتلای. ماشوم، چې د پلار ؛نه؛ ورته ډیر اهمیت نه لري په خپله خبره ټینګار کوي او پلار ته زارئ کوي، چې بویې ځي. پلار یې، چې پوه شي، ماشوم له خپلې خبرې نه اوړي، نو یو چل یې ذهن ته راشي او بچي ته وایي؛ زویه ته لاړ شه، جامې بدلې کړه، پاکې جامې واغونده، زه درته ولاړ یم بیا به دې بوځم. زوی چې په پلار طبیعي باور او اعتماد لري، په منډه لاړ شي، چې جامې بدلې کړي، خو چې راستون شي، نو نه یې د پلار څه ځرک لګي او نه د

موټر. يوازې د موټر لوګی ښکاري ماشوم چې دا حال وګوري، زړه يې کښېي، ډير خپه شي چيغې کړي؛ پلاره ته وايي دروغجن يې، دروغجه!
ماشوم رښتيا وايي، پلار يې دروغجن دے، ستاسو په خيال داسې يو پلار خپل زوی ته ويلای شي، چې زويه يا لوري دروغ مه وايه، دروغ ښه کار نه دے؟
زما په خيال، ماشوم بايد له خپل چاپېريال او کورنۍ زده کړي، چې دروغ ويل بدکار دی او رېښتيا ويل ښه کار.

# د مور او پلار دروغو ته د ماشومانو پاملرنه

کوچنې او ماشوم وم، چې يوه ورځ مې ترور له پلار سره سلا کوله او ويل يې زما په خيال پنځوس کاله مې پوره شوي. له پېنځه پنځوسو اوړيدلی يم ماته ښکاري، چې د شپيتو شوم او بيا يې ډير په حيرانۍ وويل؛ وايي، چې؛ د شپېتو شي، نو د وېشتو شي؛ ايا زه اوس د وېشتو يم؟
د ترور له تللو وروسته مې پلار د قران مجيد په شاه زما د ترور د زوکړ نېټه راوويسته او وې ليدل، چې ترور مې کابو د اتياو کالو وه!
يوه بله ورځ مې مور د پېژند پاڼې د جوړلو پر مهال خپل عمر شل کاله وليکه مور ته مې وويل مورې زه چې دې مشر زوی يم، د دولسو کالو يم، نهه مياشته هم ستا په خېټه کې وم دا شول ديارلس او د واده پر مهال ستا عمر څوارلس کاله و، دا شول اوه ويشت کاله، دلته دې شل کاله ولې وليکل؟ ايا ته وايي، چې دروغجن د خدای دښمن دی، نو بيا ولې دروغ وايي؟ مور مې ترخه شوه او وې وېل؛ ځه ځه ستا له دې حسابونو سره څه کار دی؛او بيا يې چې کله وليدل، چې زما خبره منطقي ده، نو وې خندل او وې ويل؛ زويه دا خو د مصلحت دروغ دي؛ دلته په رښتيا ويل کې فتنه ده.
ما وپوښتله، چې مورې فتنه يې په کوم ځای کې ده؟ وې ويل؛ تاته پته نشته که پلار دې پوه شي، چې زه د اووه ويشتو کالو يم، نو کيداې شي دا فکر يې واخلي چې زه بوډۍ شوم او بله ښځه وکړي!!!
دغو کيسو ته په پاملرنې سره، ايا مونږ ويلای شو، چې داسې ماشومان به رښتيني لوی شي او درواغ به نه وايي؟

# تر زېږيدو وروسته لومړني اداب

۱:-لمبول : مستحبه ده، چې ماشوم تر زېږېدو وروسته ولمبول شي.تر لمبولو مخکې پر دې پوهيدل ضروري دي، چې ايا ماشوم ته خو څه زيان لري او که نه.

ماشوم باید په همغه لومړیو وختونو کې ولمبول شي او تر زیږیدنې وروسته د غسل ځنډول ښه نه دي، که یوه یا دوه ورځې لمبول وځنډیږي، باک نه لري، خو ډېر ځنډول او تاخیر یې مکروه دي.

۲:-اذان، اقامت: مستحبه ده، چې د ماشوم تر زیږیدو وروسته د هغه په ښي غوږ کې اذان (بانګ) او په کین کې اقامت وکړې شي.

غوره دا ده چې د زیږیدو په لومړۍ ورځ د ماشوم په ښي غوږ کې بانګ او په کین کې اقامت وویلی شي یا دا کار د نوم بر وچیدو او غوړځیدو مخکې وشي.

۳:-د ښه نامه ټاکل: ابو هارون وایي، زه د امام صادق علیه السلام ملګرې وم او ورسره به مې ناسته پاسته کوله. یو څو ورځې هغه ته ورنه غلم، څه موده پس چې ورغلم، نو راته یې وویل: ډېرې ورځې وشوې نه ښکاریدې؟ ورته مې وویل: هو، خدای پاک زوی راکړې دے، نو ځکه مشغول وم.

وې فرمایل: قدم یې مبارک شه، دا راته ووایه، چې نوم دې پرې څه ایښی؟ ومې ویل؛ محمد؛ امام صادق علیه السلام ځمکې ته وکتل او وې فرمایل محمد، محمد او دومره ټیټ شو چې مخ یې ځمکې ته نږدې شو، بیا یې وفرمایل: زما مور او پلار او ټوله نړۍ د محمد (ص) له نامې زار شه بیا یې راته وویل اوس چې دې پرې دا نوم ایښی دی، نو کنځل ورته مه کوه، سپکوه یې مه، وهه یې مه او بد ورسره مه کوه. د نړۍ په مخ کوم کور کې چې محمد نامه وي، د شیطان له پله او چالونو به پاک وي.

٤:-عقیقه: د هلک یا جینۍ عقیقه (د ګډ یا بل څاروي حلالول پر خلکو او غریبانو یې ویشل) ښه کار دے او په دې ډېر ټینګار شوې دے..

· مستحبه ده چې په اوومه ورځ د بچي عقیقه ورکړل شي.
· که د یوچا عقیقه نه وي ورکړل شوي، نو مستحبه ده چې په خپله عقیقه ورکړی
· په عقیقې کې د ګډې، بزې، غوا یا اوښ حلالول کافي دي.
· که عقیقې خوړلو ته یې چاته بلنه ورکړې وي نو په کار ده تر لسو کسانو کم نه وي.
· غوره ده، چې مور او پلار د ماشوم د عقیقې غوښه ونه خوري.

۵:-د ویښتو خریل: د ماشوم د زیږیدو په اوومه ورځ مستحبه ده، چې د هغه سر وخریل شي او د وښتو په اندازه یې سره زر یا سپین زر صدقه ورکړل شي.

٦:-ختنه: هر مسلمان باید سنت شي.

· ضروري ده، چې هر ماشوم تر بالغېدو مخکې سنت کړئ.
· سنتېدل د لمانځه او نورو عبادتونو په سمه توګه د ادا کولو شرط دے.

· که یو کس له بالغېدو مخکې سنت نه کړی شي، نو تر بلوغ وروسته ضروري ده، چې په خپله د ځان سنتولو لپاره لاس په کار شي.
· غوره ده، چې ماشوم په اوومه ورځ سنت کړی شي.
· په سنت کې د ډوډۍ ورکول غوره کار دی.
· ماشوم چې څومره په کوچنتابه او ماشوموالي کې سنت شي، هم دومره غوره ده، ځکه چې د ماشوم ټپ هم زر ښه کېږي او هم یې درد کم وي.

## د اسلام له نظره د ماشومانو خوراک او څښاک:

· ماشومانو ته د عین نجاست ورکول (هغه څیز چې عین نجس وي لکه سپې او خنزیر او وینه خوړل) حرام دي.
· ماشومانو ته د هر مستوونکي او نشه کوونکي څیز ورکول حرام دي.
· د نجسو څیزونو ورکول جایز نه دي.
· ماشومانو ته د نجسو څیزونو ورکول ښه کار نه دي.
· د نجسو اوبو ورکول هغه وخت جایز دي، چې عین نجاست ( لکه متیازې) پکې نه وي.
· ماشومانو ته د شرابو او حرامو څیزونو له ورکولو څخه ډډه وکړئ.

## د شېدو او پَیو ورکول

هغه روایتونه، چې د اسلام له مخکښانو زمونږ لاس ته راسېدلي او همدا راز بېلا بېلې تجربې، ازمېښتونه او معاینې د دې ښودنه کوي، چې د مور شیدې د ماشوم په جوړښت، ذهنیاتو او د هغه د شخصیت په جوړېدو کې بشپړ اثرات اچوي.
له هم دې امله که له یو پلوه ماشوم ته د مور د شودو په ورکولو ډېر ټینګار شوی، نو له بل پلوه دا سپارښتنه هم شوې ده، چې میندې باید په کومو کومو طریقو، لارو او حالاتو بچو ته شودې ورکړي. که خوښه مو وي لومړی به د شریعت او اسلام له نظره ماشوم ته د شودو ورکولو د احکامو او ادابو په اړه لږ وغږېږو او بیا به د نوي طب له نظره دا چاره وڅېړو.

### شېدې ورکول، د اسلام له نظره

د اسلام له نظره هغه مو، چې ماشوم ته د شېدو ورکولو لپاره باید غوره شي، چې مسلمانه، پاکه، عاقله، ښکلې، نېکه، او د ښو ظاهري او باطني اخلاقو او وړتیاوو څښتنه وي.
د اسلام له نظره یوه مور باید پوره دوه کاله خپل اولاد ته شودې ورکړي، که څه هم تر دې کم یې هم ورکولای شي، خو غوره دا ده، چې ماشوم باید پوره دوه کاله د مور شودې وڅښي. البته د دوو کلو نه ډېر شیدې ورکول هم جایز دي.

د اسلام په احکامو کې راغلي، چې لومړی خو غوره دا ده، چې خپله مور ماشوم ته شودې ورکړي او که خپله مور یې شیدې نه لري، نو یوه ښه دایه دې ورته ونیسي.
له اسلامي اړخه مېړه حق نه لري، چې ښځه ماشوم ته د شیدو په ورکولو مجبوره کړي یا نې که مور وغواړي، چې ماشوم ته شیدې ورنه کړي، نو دا کار کولای شي او له مېړه څخه بچي ته د تي ورکولو پیسې او خرڅه اخیستلای شي. البته که حالات داسې وي، چې بله دایه نه پېدا کېږي یا ماشوم ته نور خواړه او نورې شودې زیان لرې، نو په دې توګه واجبه ده، چې مور بچي ته شودې ورکړي.
هغه ښځې چې مکروه دے، له پیو یې استفاده ونه شي او د دایې په بڼه ونه نیول شي، دا دي؛
· کم عقله او بد رنګه ښځه
· کافره ښځه
· بد اخلاقه ښځه
· هغه ښځه چې شودې یې له ناروا لارې جوړې شوي وي.
· هغه ښځه چې نیکې ځانګړتیاوې ونه لري.
د اسلامي احکامو له نظره که د یوې ښځې شودې کمې وي او یا د روژې نیولو له امله یې شودې کمېږي او ماشوم ته زیان رسوي، نو روژه پرې حتمي او یقیني نه ده.
د اسلام له نظره د شودو څښل د ځینو کسانو د محرمیت او خپلوۍ لامل هم کېږي. د بیلګې په توګه که دوه کسان له یوې ښځې له هغو شرایطو سره سم، چې اسلام یاد کړي دي، شودې وڅښي، نو دغه دوه کسه پخپلو کې خپلوان او محرم کېږي او هم دا ډول له هغې ښځې سره هم، چې شودې یې ورځنې څښلې وي.

# د ماشومانو وهل، ټکول او رټل

د ماشومانو وهل رغوونکي رول نه لري، بلکې په ښوونه او روزنه کې د یو غړوونکي او منع کوونکي لامل په توګه ګڼل کېږي. کېدا ے شي ماشوم د وهلو له وېرې په څرګنده له یوه کار لاس واخلي او منعې شي، د مشرانو په وړاندې یو کار ونه کړي، خو په حقیقت کې د هغه بد عادت له منځه نه ځي.

## د بدني سزا او وهلو زیانونه

د ماشومانو وهل کله کله، بلکه زیاتره وختونه ډېر مهم او لوی زیانونه لري او ماشومانو شخصیت ته نه جبرانېدونکي زیانونه رسوي. په دغو زیانونو کې ځینې دا دي:

۱:- ماشوم په خپل ژوندانه کې په دې عادتېږي، چې زور ته هېڅ بې هېڅه او بې دلیله تسلیم شي، ماشوم په دې منطق او عادت سره لویېږي، چې په دنیا کې ګنه د زوررو او بدمعاشانو ده او دنیا د زور دنیا ده، نو چې کمزورے درته په لاس درځي، ټکوه یې او خپل کار وباسه.
۲:- ماشوم له وهونکي سره که هغه هر څوک وي دښمني پیدا کوي، په هغه بدګومانېږي او د سرغړاوي احساس یې زیاتېږي.
۳:- په وهلو ټکولو سره ماشوم بې زړه لویېږي، خپل شخصیت او درناوې له لاسه ورکوي، روحي انډول نه لري او د یوه کمزوري شخصیت څښتن او ډارن کس تري جوړېږي.
٤:- کوم مشران، چې په کوچنیوالي کې ډېر وهل وخوري، له هغه یو ظالم کس جوړېږي او له دې امله چې پخپله په دې منطق سره لوي شوې وي په راتلوني ژوندانه کې هم له دې دلیل او وهلو خوړلو کار اخلي او خداي مه کړه که کوم مقام ته ورسېږي، نو بیا خو ډېرې ناوړه پایلې ولري.
که د نړۍ د نامتو ظالمانو واکمنانو تاریخ او د ژوندانه پېښې راوڅېړو، نو معلومېږي، چې د حجاج بن یوسف، هټلر، صدام، بش او داسې نورو ظالمانو په څېر کسانو په کوچنیوالي کې ډېر ډېبول خوړلي او د همدغه تاو تریخوالي او وهلو ټکولو په روحیې سره لوې شوي دي. داسې کسان مثبت او رغنده شخصیت نه لري، نو د خپل شخصیت ځینې نیمګړتیاوې د ظلم له لارې پوره کوي او خپلې زړې عقیدے له دې لارې برسره کوي.
امام صادق علیه السلام د ماشومانو د وهلو ناوړه پایلو ته په پاملرنې فرمایي؛ په ماشومانو حد نه جاري کېږي، بلکه په سمه توګه باید ادب شي.؛
ډېر مور و پلار د ماشومانو په ښوونه او روزنه کې له وهلو کار اخلي او ځینې یې له بدني وهلو پرته نورې رویې هم کاروي لکه، ماشوم په کوټه کې بندول، رټل، کنځل او داسې نور.
باید ووایم، چې دا ډول سزاګانې او ادبونه هم د وهلو هومره بدې پایلې او زیانونه لري. دا کارونه د ماشوم شخصیت سپکوې کوي، چې ماشوم په خپل ژوندانه کې دغو ناوړه کارونو ته مخه وکړي او په دغو چارو روږدې شي. سربېره پردې ډېر وهل او رټل د ماشوم د سپین سترکۍ او خپل لامل هم کېږي.
امام علی علیه السلام فرمایي؛ په وهلو او رټلو کې زیاتون د سپین سترګۍ او ضد اور لمبه کوي.؛
اسلام مینه، محبت، مهرباني او نرمي د ښوونې او روني تر ټولو ښه لاره ګڼي. که څه هم په ځینو ځایونو کې بنیادم اړ وي، چې د ماشومانو په غلطیو اوخطاګانو مناسب غبرګون وښایي، ځکه چې که ماشومانو د ناوړه او سپک کار په وړاندې مناسب غبرګون ونه ښوول شي، نو د دغو

کارونو سپکوالي او غلطوالي د ماشوم په سترګو کې کمېږي، ماشومان بیا داسې کار غلط ناوړه نه ګڼي او کېدا ے شي ورباندې روږدې شي.
نو له غلطیو او ناوړه کارونو د ماشومانو د زغورلو لپاره ځینې غیر بدني سزاګانې باید په نظر کې ونیول شي. لکه له ماشومه خپه کېدل، له انعام او بوختیا د هغه منعه کول، یا له لوبو او د هغه له خوښو کارونو د هغه بندول، که دا ډول سزاګانې او ادبونه په سمه توګه عملي شي، نو د ماشومانو په روزنه کې ښه رول لوبولې شي.
یوه سړي حضرت امام موسی بن جعفر علیه السلام ته د خپل بچي شکایت وکړ امام ورته وفرمایل؛ چې بچې دې مه وهه او د ادابولو لپاره ترې خپه شه، خو پام کوه چې دا خپګان دې ډېر اوږد نه شي. البته لکه څنګه چې مخکې وویل شول سزا که بدني وي او که غیر بدني، رغنده رول نه لري او ډېر مهال مثبته اغېزه نه ښندي او ماشوم ځان سمولو او اصلاح کولو ته نه هڅوي.
یو ماشوم کېدای شي د وهلو او سزا له وېرې په ښکاره یو کار ونه کړي، خو که فرصت پیدا کړي، نو په پټه یې کوي او د دې پایله دا ده، چې کله کله وهلو او ټکولو څخه د ژغورېدو لپاره له دروغو، ریا او غولولو کار اخلي او مشرانو ته دوکه ورکوي یا دروغ وایي، په ځینو ځایونو کې که سزا مناسبه او په موقع وي، نو روغونکې اغېز لري. البته په داسې ځایونو کې سزا خطا کوونکي کس پر صلاح سربېره نورو ته هم عبرت او سبق لري. کله کله انسان غواړي، چې ماشومانو ته د کومې غلطۍ او ناوړه کارسزا ورکړي، نو پکار ده، چې په ښکاره یې تنبیه کړي، چې نور ترې هم سبق واخلي او بیا داسې غلط کار تکرار نه کړي.

## د ادابو او سزا مهم ټکي

د ماشومانو په تنبیه والو او ادابولو کې لاندینیو ټکیو ته پاملرنه پکار ده.
ضروري نه ده، چې سزا او ادابول تل په ژبې او خبرو سره وي، کله کله یو ملامته نظر او خپه سترګې هم ماشوم پوهولې شي.
له تنبیه ولو او ادابولو مخکې باید د شوي غلط کار رېښې او لاملونه ولټول شي، چې د هغو په ختمولو سره د غلط کار د تکرار مخه ونیول شي.
تنبیه باید د بنیادم وروستۍ حربه او لاسوند وي یانې که په بله توګه ماشوم له کومې غلطۍ منعې کولای شو، نو باید له تنبیې کار وانخلو په تېره بیا له وهلو خو تر وسه وسه ډاډا پکار ده.
توجه پکار ده، چې ماشوم د هغه د ملګرو تر وړاندې تنبیه نه کړو، ځکه چې د ماشوم د خپګان، د شخصیت د خرابېدو او شپېن سترګۍ لامل ګرځي.
په تنبیه کې باید د ماشوم هغه بد کار ورټل شي، چې کړي یې وي او د ماشوم شخصیت باید ملامت او خراب نه کړي. د بېلګې په توګه که ماشوم یو غلط کار وکړ، نو ورته دې وویل شي، چې

ستا دا کار غلط دے. نه دا چې ته ډېر بد هلک يې؛ يا ؛ډېر خراب او غلط کس يې؛ دا ډول خبرې نه دي پکار. بلکې هماغه غلط کار ماشوم ته وريادول پکار دي.

مور و پلار ته ښايي، چې د خپلو وړو بچو سزا او ادبول پخپله وکړي او دا کار خپل کوم مشر زوي يا لور ته پرې نه ږدي، ځکه چې دا چاره د بچيو تر منځ د اختلاف او د بدګومانيو لامل کېږي.

ماشوم ته د نورو ماشومانو د ځانګړتياوو او وړتياوو وريادول ښه پايله نه لري. او په ماشومانو کې حسد او خپل لامل ګرځي.

په سزا کې بايد ماشوم وپوهول شي، چې د کوم کار له امله سزا ويني نو بيا له هغه کاره ځان وساتي، په ټولو مواردو کې بايد ماشوم پوه شي، چې د کور خلک له هغه ولې خپه دي او هغه کوم داسي کار کړې دے، چې نور يې له ځانه خپه کړي دي؟

د ماشوم هره غلطي او خطا سزا نه لري، د بيلګې په توګه که د ماشوم له لاسه د شيشې ګيلاس وغورځېږي او مات شي، د ماشوم خپلې غلطۍ ته پام وګرځي او ځان ورته ملامته ښکاره شي، نو مور و پلار ته ښايي، چې په دې کار يې سزا نه کړي يا پرې چغې ووهي، بلکې په کرارۍ سره ورته ويل پکار دي، چې بيا دې ډېر احتياط او پاملرنه کوي.

په سزا کې بايد د ماشوم بدني او روحي ستونزو ته پام لرنه وشي.

ماشوم بايد په چټياتو او وهمي څيزونو سره سزايي نه شي. د بيلګې په توګه هغه له ؛باو؛ ؛ديو؛ او ؛بلا؛ او داسې نورو څيزونو وېرول نه دي پکار.

د ماشوم سزا کول او ادابول دې د مور و پلار او ښوونکيو د زړه د سړېدو او غچ اخيستلو په احساس سره نه وي، بلکې د ماشوم د سزا پر مهال بايد په خپلو احساساتو بشپړ کنټرول او واک ولرل شي، چې ماشوم دا احساس ونه کړي، چې مور و پلار يا مشران يې د هغه په سزا کولو خوشالېږي او زړه يې سړېږي.

د ماشوم په تنبه ولو کې لاپې او غورې وهل، د بېلګې په توګه؛ پښې به دې ماتې کړم؛ يا داسې نورې خبرې، کېداى شي موقت او مهاليز اغېز ولري، خو ماشوم ډېر زر پوهېږي، چې مشران او مور و پلار يې دا کار نه کوي، بلکې هسې ډوزې ولي، نو خپله اغېزه ډېر زر له لاسه ورکوي.

په ضروري تنبيه کې بايد له سستۍ او بې پالۍ کار وانه خيسل شي او داسې نه ده پکار، چې مور و پلار تر يوې مورې د ماشوم په غلطو کارونو سترګې پټې کړي او چې ډېرې ناسمې راټولې شي، نو په يو ځاى يې تنبيه کړئ، بلکې ماشوم بايد په هرې غلطۍ په وخت او موقع تنبيه شي او هغه ته سمه لار وروښوول شي.

که ماشوم له ناسمو کارونو ستومانه شي او له هغه کار راستون شي، نو بايد په مينې او محبت سره ومنل شي، چې له انسانه خطا کېږي، خو انسان ته پکاردي چې هڅه وکړي، چې پخپله خطاګانې کمې کړي.

## د ماشوم ژاړا ته د رسول الله (ص) مبارک پاملرنه

امام صادق عليه السلام فرمايي يوه ورځ د خدای استازي د ماسپښين د لمانځه جمعه ورکوله، خو دوه وروستي رکعتونه يې ډېر په بيړه وکړل او مستحبات يې تر سره نه کړل. تر لمانځه وروسته خلکو وپوښتل، چې اې د خدای رسوله: په لمانځه کې کومه پيښه در پېښه شوې وه؟ ولې دې لمونځ په بيړه پای ته ورساوه؟ وې فرمايل ولې څه چل شوې دے؟

خلکو ورته وويل وروستي دوه رکعته دې ډېر په بيړه وکړل. پېغمبر (صلی الله عليه و آله) وفرمايل ولې تاسو د هغه ماشوم ژاړا او کوکارې نه اورېدې؟

د امام حسين عليه سلام دايه؛ ام الفضل؛ چې د عباس مېرمن وه، وايي يوه ورځ رسول الله مبارک امام حسين له ما واخيسته او په غېږه کې يې تشې متيازې وکړې. ما ماشوم ډېر په سخته له پيغمبر اکرم (صلی الله عليه و اله) راکاږه او ماشوم په ژاړه شو. رسول الله مبارک راته وفرمايل اې د فضل مورې: کراره اوسه زما جامې خو به اوبه پاکې کړي، خو د دې ماشوم د زړه خپګان او غم به څوک لرې کړي؟

وايي، چې د اسلام په سرکښيو کې دا دود و، چې خلکو به بچي رسول الله مبارک ته وروستل، چې نوم يې وټاکي.د خدای رسول به په ورين تندي ماشوم په خپله غېږ کې کېناوه او مينه به يې ورسره کوله کله کله به داسې وشول، چې ماشوم به د خدای د رسول (ص) په غېږ کې تشې متيازې وکړې او مور و پلار به يې شور جوړ کړ، ماشوم ته به يې سختې خبرې وکړې، چې ولې د ې متيازې وکړې.

د خدای رسول به خلک له دې کاره او له ماشومانو سره له سختۍ او وهلو منعې کول او فرمايل به يې، چې په زوره ماشومان له کارونو مه منعې کوئ بيا به يې په ماشوم نوم کېښود او دعا به يې ورته وکړ او مور و پلار به په خوشالۍ خپل اولاد يوور پر دې مهال به د رسول الله مبارک په تندي د غوسې يا خپګان هېڅ ينښې نښانې نه وې او کله به چې ماشوم لاړ نو خپلې جامې به يې وويندځلې.

## پر ماشومانو د سختۍ او وهلو پايلې

وايي چې يو ورځ پوليسو يو هلک او جينۍ ونيول او تانې ته يې راوستل. کله چې تانې دار له دوی د غلطو کارونو او غلا لامل وپوښته، نو هلک ورته داسې وويل: پلار مې ډېر کنجوس او بخيل دے. زه به چې کله ښوونځي ته تلم، نو يوه روپۍ به يې نه راکوله کله به مې چې په ښوونځي

کې نور هلکان ليدل، چې د کينټين (د خوړو دکان) مخې ته راټول شوي، بسکټ يا کيکونه خوري، نو زما به هم ډېر زړه غوښتل، چې کاشکې ما هم پيسې لرلای او د دوی په څېر مې بسکټ يا چاکليټ اخيستی وای زما ټول ارمان د يوې روپۍ لرلو.
په هم دغو چورتونو کې وم، چې له ګل محمد سره اشنا شوم. د ګل محمد پلار د هغه مور طلاقه کړې وه او مور يې مړه وه. ده هم زما په څېر د ښوونځي له دوکانه د خوړو د اخيستو لوی ارمان درلود. همداغه ارمان او د محرومۍ احساس زموږ د دوستۍ ګډ ټکی و او زموږ د ملګرتيا مزی يې ټينګ کړ.
ډېر مهال به له يو بل سره کېناستو او د زړه خواله به مو سره کوره. زموږه ملګرتيا تر دې بريده ورسېده، چې دواړه په دې سلا شوو، چې د نورو ماشومانو سامانونه به پټوو او پيسې به برابروو، نو د ملګرو کتابونه، کتابچو او قلمونو پټول مو پيل کړل. خير يوه ورځ ښوونکي وليدو او له دې کاره يې توبه ګار کړو، ما او ګل محمد وپتېيله چې بيا به غلا نه کوو.
ما مې پلار ته ډېر وويل، چې لږ تر لږه يو څه ماتې پيسې راکوه، خو هغه نه راکولې او وهلم به يې.
د ګل محمد انجام هم همدا و. لنډا دا چې دواړو پرېکړه وکړه، چې له ښوونځي بهر غلا ته ملا وتړو. له دکانونو مو غلاګانې پيل کړې او بالاخره يوه ورځ ونيول شوم.
پوليسو مې له پلاره ژمنه واخيسته، چې زما خيال به ساتي، خو پلار مې سړی نه شو او ما خپلو غلاوو ته دوام ورکړ، خور مې هم له ځانه سره په دې کار روږدې کړه او يوه روځ دواړه د پوليسو په لاس کې پريوتو.
په محبس کې مې خيال کاوه، چې پلار به مې خلاص کړي، خو هغه زموږ د ژغورلو لپاره هېڅ لاس و پښه ونه خوځول او بې له دې، چې زموږ د دغه بدکار او غلا د کولو پر صحيح لامل ځان پوه کړي، موږ به يې تل تر وهلو لاندې نيولو.
کله چې مې پلار پوه شو، چې زه نور سبق نه وايم،نو له يو مستري سره يې شاګرد کړم. ښوونکی مې هم ډېر بد اخلاقه او ناکسه سړی و. ډېر سخت کار به يې راباندې کاوه او د ورځې به يې يوازې يوه روپۍ راکوله. دومره به يې وهلم، چې له ژونده يې بېزاره کړم او بالاخره له کوره تښتېدو ته اړ شوم. له کار او ژونده مې کرکه کېده، انسانان مې بدې شول او ټول راته دښمن ښکارېدل، نو د ځلکو د ازارولو او ځورولو روحيه مې پيدا کړه، تل به مې نور خلک په تېره بيا ګاونډيان ځورول او زيان به مې وررساوه او خور به مې راسره په دې کار کې مرسته کوله.
تاسو وليدل، چې په دې کيسه کې وهلو او ټکولو او د ماشوم اړتياوو او روحياتو ته بې پامۍ هغه له کوم برخليک سره مخامخ کړ او يوه کورنۍ يې څنګه بدمرغه کړه. دا د وهلو له ناوړه پايلو يوازې يوه بېلګه وه، چې ما تاسو ته وړاندې کړه. که د نړۍ د لويو او وړو مجرمانو او ظالمانو

ژوندپېښې رواړوئ، نو ډېر پکې داسې کسان دي، چې په کورنۍ کې ورته په سپکه سترګه کتل کېدل، غوښتو او روحياتو ته يې سمه پاملرنه ده شوې او د کور د ناوړه چلنداو وهلو له امله له کوره تېښتې، غلطو کارونو او د خلکو ازارولو ته اړ شوی دی.
په دې هيله چې مور و پلار د ماشومانو د بې ځايه وهلو او تنبيهولو ناوړو پايلو ته ځير شي او ټولنې ته د مثبتو وګړيو د وړاندې کولو هڅه وکړي.

# د لور او زوي تر منځ توپير

د نړۍ د بېلا بېلو سيمو څېړنې او پلټنې د دې ښوونه کوي، چې نه يوازې زمونږ په پښتني ټولنه، بلکې د نړۍ په ډېرو تېرو ټولنو کې زامنو ته تر لوڼو زياته توجه کېږي او ميندې او پلارونه له لوڼو سره تر زامنو زياته مينه کوي. زمونږ په ټولنه کې که وګورو، نو لور خو بېخي اولاد نه ګڼل کېږي او کله کله خو د يو زوي د راوړلو لپاره پرله پسې شپږ اووه لوڼې راوړل کېږي. د لوڼو په اړه زمونږ د ټولنې نظر دا دے، چې د پردي کور ده او پردي کور ته به ځي.
له دې امله يې څوک دومره پروه نه کوي. په ځينو سيمو کې بېخي د جنسي توکې په توګه ګڼل کېږي او ځينې کورنۍ لوڼو ته ځکه خوشاله وي، چې پېغلې به شي او خرڅې به يې کړي او د واده په نامه او په دې پرده کې د لور د خرڅول وپايلې، خو مونږ تاسو ټولو ته څرګندې دي، چې په سخرګنۍ کې ورته په کومه سترګه کتل کېږي.
خير زمونږ په ټولنه کې پر ښځو او لوڼو ظلم ځانته اوږده کيسه لري، چې مونږ يې دلته نه وخت لرو او نه په دې موضوع نور غږيږو.
خبره مو د لوڼو کوله، پخوا که به زامن د مېړو په توګه ګڼل کېدل او زمونږ په دوديزه ټولنه کې به پرې د پلار او کورنۍ ملا ټينګېدله، خو نن هغه شرائط هم نه شته او وخت دومره پرمخ تللے، چې که هر انسان خپله خېټه هم وساتي، لويه خبره ده، نو اوس ولې بايد لوڼو ته په سپکه سترګه وکتل شي. او د خدای بنيادم ونه ګڼل شي. که له يوې خوا مونږ پښتونولۍ او دودونو له ښځې سره ځينې ناروا چلند او د سورې په نامه بېلا بېل ظلمونه کړي، نو له بلې خوا هم ښځې او لور ته د ډېر عزت او درناوي قايله ده. هم دا راز اسلام هم لور ته ډېر اهميت ورکړے او هغه يې د جنت په ګل، رحمت او داسې نورو نومونو نومولې ده، او که د زامنو په پرتله د لوڼو د ستاينې حديثونه راغونډ کړو، نو کتابونه ترې ډکېږي.
په ناپوهو عربو کې هم ځينې دودونه او ناوړه رسمونه دود وو، خو اسلام دغه دودونه او د لوڼو په پرتله دغه حساسيتونه له مخه يوړل، قران شريف وايي؛ کله به يې چې يو سړي ته خبر راوړ، چې ښځې دې لور زېږولې، نو له غوسې به يې مخ سور شول او د شرم له امله به له خلکو ډډې ته شو يا به يې لور ژوندۍ ښخه کړه.؛ (سوره نخل)

يوه ورځ يو سړی له رسول الله مبارک سره ناست و، ناڅاپه ورته چا خبر راوړ، چې خدای لور درکړې ده، د دغه عرب رنګ وتښتېد او ډېر خپه شو، پيغمبر (ص) ورته د خواخوږۍ او ډاډينې لپاره وفرمايل؛ ځمکه د همغې بوج زغمي، هسک ترې خپل سيوری نه غړوي، خدای تعالی يې هم روزي رسوي، نو ته ولې خپه يې؟ ستا لور د ګل په څېر ده، چې بويوې به يې، دا خو ناښوښې خبره نه ده؛

امام صادق عليه السلام فرمايي؛ يو سړی د خدای رسول ته راغی او يو بل کس ته يې، چې له رسول الله مبارک سره ناست و، وويل چې خدای لور درکړې ده.

د سړي رنګ زېړ واوښت او اننګي يې له شرمه سره شول، د خدای رسول وپوښته، چې خېر خو دی، وې ويل خير نه دی، سړي خبر راوړ، چې لور مې شوې ده. د خدای رسول ورته وفرمايل؛ دروندوالی يې په ځمکه دی او د خدای تر اسمان لاندې به ژوند کوي، روزي هم خدای ورکوي او دا خو د ګل په څېر ده، چې کور به دې پرې خوشبوي وي. بيا د خدای رسول خپلو ملګرو ته مخ واړاوه او وفرمايل د چا چې يوه لور وشوه، دروند بوج يې پر اوږو پرېوت او څوک چې د دوو لوڼو پلار شو، خدای دې ورسره مرسته وکړي او د چا چې درې لوڼې وشوې، نو جهاد او هر سخت کار ترې معاف دی او کوم سړی چې څلور لوڼه ولري، نو ای د خدای بنده ګانو هغه ته پوره ورکړئ او مهرباني ورسره وکړئ؛

له دې حديثه څرګندېږي، چې د اسلام له نظره د لوڼو د مور و پلار دنده د زامنو تر مور و پلار سخته ده، ځکه چې د ښځو احساسات او جذبات لطيف او نرم وي او بايد ډېره ځيرنه يې وشي، چې بوټي د خپلو احساساتو له امله له لارې کوږ نه شي. همدا راز د واده او نورې مسئلې هم لري، نو ځکه د خدای رسول خپلو ملګريو او مسلمانانو ته له داسې کس سره د مرستې حکم کړی. البته د لوڼو روزل ډېر لوی ثواب هم لري او د ځينو حديثونو له مخې د لوڼو پلار به نېغ جنت ته ځي.

## د ډالۍ په وېشلو کې د لوڼو مخکې کول

د خدای رسول فرمايي؛ څوک چې بازار ته لاړ شي او د خپلې کورنۍ لپاره کومه ډالۍ واخلي، نو د هغه چا په څېر دی، چې د خدای په لاره کې يې بېوزليو ته صدقه ورکړې وي او د ډاليو په وېشلو کې اړينه برېښي، چې لوڼو ته تر زامنو مخکې ورکړل شي، ځکه چې څوک خپله لور خوشاله کړي داسې ده لکه چې د حضرت اسماعيل يو زوزات يې ازاد کړی وي او کوم څوک چې خپل زوی د ډالۍ په ورکولو خوشال کړي، داسې ده لکه د خدای په لار کې او د هغه له وېرې ژاړېدلی وي او دا به جنت ته ځي.

## بهلول څه وايي؟

وایي چې یوه ورځ یې اسحاق بن محمد ته خبر راوړ، چې لور دې شوې ده. اسحاق چې د زوی د زېدي په تمه ناست و، ډېر غمژن شو او له خوراک څښناک یې لاس واخیست او د چا خبره لوړ تړلی یې وکړ. بهلول چې له دې خبر شو، نو اسحاق ته ورغی او وې ویل دا دومره ژړا انګولا په څه کوې، شکر نه وباسې، چې خدای تعالی روغ رمټه بچی درکړی دی. که د دې روغې او سالمې لور په ځای بې زما یې زما په څېر لېونی زوی درکړی وای، نو بیا به دې څه کول؟ اسحاق چې دا خبره واورېده، نو ډېر خوشاله شو، په خندا شو او لوړ تړ یې مات کړ.

له دې څرګندېږي، چې انسان باید په دې خوشاله وي، څې خدای روغ اولاد ورکړی دی. رسول الله مبارک ته به یې، چې کله د چا د بچي خبر راوړ، نو لومړی به یې دا پوښتنه کوله ، چې روغ دی او که نه. که روغ به و، نو ډېر به خوشاله شو. دا پوښتنه به یې نه کوله، چې لور ده او که زوی، ځکه چې د هغوی په اند دواړه برابر وو.

د اروپوهنې او مېرمنو او لونو د نفسیاتو پوهان وایي، چې لور د زوی په پرتله له مور و پلار سره ډېره مینه کوي او مور و پلار ورباندې ډېر ګران وي.

زموږ په ځینو ټولنو او پرمختللیو ټولنوکې چېرته، چې د کمبائن او ګډې کورنۍ سسټم نه شته او لونه و زامن تر واده وروسته له خپلو میندو او پلرونو جلا کېږي او ځانته کورنۍ جوړوي دا خبره څرګنده شوې، چې د مور و پلار تر زړېدو وروسته لونې د زامنو په پرتله د مور و پلار پوښتنې ته ډېرې ورځي او د هغوی ډېر خیال ساتي. ډېر زامن تر واده وروسته د خپل کور شي او مور وپلار ته دومره پاملرنه نه کوي، خو لونې تر واده وروسته هم تل د مور و پلار یې جلا او سېږي، نو پوښتنی ته یې هرو مرو ورځي.

## خدای پاک څه خوښوي؟

شیخ الطایفه ابو جعفر طوسي رضوان الله علیه له حضرت امام صادقه (ع) نقلوي چې خداي پاک دوه فرښتې د یو کلي د مرګ او تباهۍ لپاره واستولې، کله چې دې کلي ته راورسیدې، نو یو سړے یې ولید چې په توره شپه کښې یې د خداي درګاه ته لاس اوچت کړي دي او په عبادت او ویر ژړا لګیا دے.

له هغې دوو فرښتو یوې بلې ته وویل: ښه به دا وي چې د دې سړي په حقله پوښته وکړو چې هغه هم له نورو سره مړ کړو؟ دویمې فرښتې وویل: زۀ خپل کار سر ته رسوم او په دې حقله هیڅ پوښتنه ونه کړم. لومړۍ فرښتې له خدایه د هغې سړي په حقله وپوښتل. خداي پاک هغې فرښتې ته چې پوښتنه یې ونه کړه وحي وکړه چې هغه سړے دې هم له نورو سره مړ کړي (فقد حل به معهم سخطی ان هذا لم یتغیر وجهه قط عضباً) په هغۀ باندې هم د نورو کسانو غوندې غصه یم، ځکه چې هغه هیڅکله د خلکو د ګناهانو په لیدو غصه نه دې شوې چې مخ یې له خفګانه بدل شوې وي. او هغه فرښتې چې له خدایه یې پوښتنه کړې وه خداي پاک پر هغې غصه شو او یوې جزیرې ته یې واچولو اوس هم ژوندې ده او د خداي تر غصې لاندې ده[1]

محمد بن یعقوب کلیني رضوان الله علیه له حضرت امام باقر (ع) نقلوي چې هغوي وفرمایل: خداي پاک حضرت شعیب (ع) ته وحي وکړه زۀ به ستا له قومه سل زره کسان عذاب کړم سلویښت زره کسان له هغوي کناهګار او بدکارې دي او شپیته زره کسان به ښه کسانو څخه وي. حضرت شعیب (ع) عرض وکړ: پروردګارا! بد کسان خو د هغوي له بدعملۍ په سبب عذابوې، خو د دې ښه او نیکو کسانو څه ګناه ده؟ فاوحی الله عزوجل الیه داهنوا اهل المعاصی و لم یغضبوا الغضبي خداي پاک حضرت شعیب (ع) ته وحي وکړه: ځکه چې هغوي له ګناهګارانو سره سره روان وو او په هغه ګناهانو باندې چې زه پرې غصه کیدم غصه نه شوم.[2]

۱. الکنی ۱ ټوک ۳۱۰ مخ

۲. فروغ کافی پینځم ټوک ۵٦ مخ